# د غړي مسئوليتونه

# حزب اسلامي افغانستان

**ځانګړني**

**نوم :** **د غړي مسئولیتونه**

**چاپ :** **دوهم**

**خپروونکی:** **حزب اسلامي افغانستان**

**د خپرېدو نېټه :** **حوت ۱۳۹۵ ه- ش**

**شمېر:** **۲۱۰۰ ټوکه**

بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

قرآن دا د هدايت روښانه مشعل؛ کله چي د حق او باطل ترمنځ د جګړي او مبارزې په اړه بحث کوي نو د حقپالو حتمي او قطعي بريا او غلبه د دې ډګر د طبيعی پايلي په توګه يادوي، لکه چي فرمايي:

اَلاَ إِنَّ حِزْبَ اللهِّ هُمُ الْمُفْلِحُونَ* المجادله ۲۲

پام چي د الله حزب همدا دوی بريالي دي.

وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا* الإسراء: ۸۱

ووايه حق راغی او باطل له منځه لاړ؛ بې شکه چي باطل له منځه تلونکی دئ.

وَلَن يَجْعَلَ اللهُّ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً* النساء: ۱۴۱

يقيناً چي الله د کافرانو لپاره پر مؤمنانو د غلبې هيڅ لار نه ده ګرځولې.

او يا

إِنَّا لَنَنصرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِى الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الأَشْهَادُ* المؤمن: ۵۱

په يقين سره چي موږ حتماً د خپلو پيغمبرانو او هغو چي ايمان ئې راوړی هم په دنيايي ژوند كي ملتيا كوو او هم په هغه ورځ چي گواهان (د گواهي لپاره) ودرېږي.

خو د قرآن له نظره دا قطعي او حتمي بريا په داسي عواملو پوري تړلې ده چي د حقپال حزب په جوړښت كي او د دې حزب د هغو غړو په ځانگړتياوو كي د اصيلو او ټاكونكو عناصرو حيثيت لري چي د حق د برلاسي او تحقق لپاره مبارزه كوي. دا عوامل يا د هغو وگړو امتيازي ځانگړتياوي دي چي دا حزب جوړوي، او يا هغه اسلوب او تگلاره چي دا حزب ئې د خپلي مبارزې لپاره غوره كوي او د حزب بنسټ پرې ايښودل شوی. د دې بريا او برلاسي څرنگوالی نه د حق او باطل د پلوي ځواكونو تر منځ له توازن او تناسب سره كوم بنيادي تړاو لري او نه هم د اوضاع او شرائطو له مساعدت او عدم مساعدت سره، بلكي د اسلامي حزب د دغو بنسټيزو قواعدو او اصولو د رعايتولو په صورت كي به د ځواكونو تناسب د جگړي په جريان كي پخپله د الله تعالی د حزب د بريا په گټه تغيير ومومي، اوضاع او شرائط به هرومرو د دې حزب د مصالحو په نفع بدلېږي، كه څه هم په ظاهر كي د باطل محاذ ځواكمن او ټينگ ښكاري او د دې جگړي په لومړيو پړاوونو كي شرائط او اوضاع د باطلپالو د بريا او مضبوطيا په گټه وي.

بايد په دې پوه وو؛ لكه څنگه چي د الله تعالی د حزب د غړو

امتيازي مواصفات عملي واقعيتونه دي نه ذهني او خيالي تصورات، همداسي هغه بنسټونه، اسلوب، ضوابط او سنن چي دا حزب پرې ودرېږي او بريا او برلاسي ئې ورپوري تړلې ده، ذهني مفاهيم نه دي، زموږ د ذهن زېږنده نه بلكي داسي بنسټونه دي چي دا حزب پرې ولاړ وي، د تشخص اساسي ابعاد او د بريا اصلي عوامل ئې ګڼل كېږي.

د دې حزب د غلبې او بريا په اسبابو د پوهېدو لپاره تر ټولو وړاندي دي ته اړ يو چي د دې حزب د غړو ځانګړني وپېژنو او بيا هغه اسلوب، تګلاره او طريقه چي د دې نهضت له مزاج سره تړاو لري درك كړو او د هغو موازينو مطابق په كار پيل وكړو چي د دې حزب اصول ئې غوښتنه كوي، د دې ټكو له مراعاتولو پرته نه د داسي كوم حزب د زېږېدو امكان متصور دئ او نه ئې بريا او غلبه ممكنه ده.

دا مطلب د يوه مثال په ترڅ كي روښانه كوو: كه موږ وغواړو د كائناتو په پراخي غېږ كي كوم تصرف وكړو او د كوم خاص مركب د پنځوني هڅه وكړو، نو مخكي له دې چي په دې كار لاس پوري كړو دې ته اړ يو چي: لومړى بايد د ياد تركيب اجزاء او هغه عناصر وپېژنو چي ترې جوړ شوى، بيا هغه قاعده او طريقه وپېژنو چي د دې اجزاء او عناصرو د يو ځاى كولو لپاره بايد مراعات شي، او په پاى كي هغه شرائط چي د دې مركب د پنځوني او ايجاد لپاره لازم دي وپېژنو. د دې دريو عواملو له پېژندو او مراعاتولو وروسته د دې امكان ترلاسه كولى

شو چي د دې ترکیب د جوړولو لپاره په موفقیت سره ګام پورته کړو.

موږ د دغه ترکیب د پنځوني لپاره د اړینو عناصرو، اړوند قاعدې او لازمو شرائطو له پېژندني او مراعات وروسته او د دې پېژندني له غوښتنو او موازینو سره سم اقدام کوو او مطلوبه نتیجه ترلاسه کوو. په دې برخه کي ډېره کمه غلطي او اشتباه د هدف تحقق ناشونی کوي. د بېلګي په توګه که څوك وغواړي د اوبو مرکب جوړ کړي نو دې ته اړ دئ چي لومړی دا معلومه کړي د اوبو ماده له کومو عناصرو او له څه ډول ځانګړنو جوړه شوې ده او د ترکیب اجزاء ئې په کوم تناسب او څه ډول شرائطو کي دغه ترکیب رامنځته کولی شي، په دې مطالبو له پوهېدو وروسته کولی شي له دې تشخیص سره سم اقدام وکړي او د اوبو مرکب جوړ کړي، هیڅکله نشو کولی له نورو عناصرو اوبه جوړې کړو، همداراز د دغو ترکیبي اجزاوو د تناسب له رعایتولو او د ترکیب لپاره ئې د لازمي شرائطو له رامنځته کولو پرته نشو کولی د اوبو د جوړولو په کار کي بریا ترلاسه کړو، همدا راز که څوك وغواړي د دې مادې د فاسدېدو مخه ونیسي او هغه په داسي توګه وکاروي چي پایلي او ګټې ئې د ده مخي ته کښېږدي نو له دې پرته چي په دې ترکیب پوري اړوند قواعد په پام کي ونیسي او هغو ته په پام سره د هغې د پایښت شرائط برابر کړي او په داسي توګه ئې وکاروي چي د هغې له طبیعت سره لازمه ده؛ بله چاره نلري. د دې مادې اړوندو قواعدو او ضوابطو ته د نه پاملرني په صورت کي لکه څنګه چي د هغې رامنځته کول ناشونی دئ همداراز د

هغې ګټور او مثمر کارول او له هغې مثبتې پايلې او نتائج ترلاسه کول هم امکان نه لري.

د اسلامي نهضت پيدايښت او بريا ته رسېدل ئې هم کټ مټ همداسې دئ، له ځانګړو وګړو او عناصرو جوړېږي، د خپلو داسې خاصو اصولو، قواعدو او تګلارو تابع وي چې پيدايښت، پايښت او بريا ئې ورپورې تړلې وي. دغو اصولو او قواعدو ته د نه پاملرنې په صورت کې له يوې خوا د اسلامي نهضت رامنځته کېدا محال ده او له بلې خوا له دې سره جوخت له دغو اصولو او ضوابطو هر تېرى او انحراف د دې باعث کېږي چې د نهضت دننه فساد ته لار پرانستل شي او سلامت او موجوديت ئې له ګواښونو سره مخامخ کړي، نه د بريا په لوري اغېزمن ګامونه اخيستى شي او نه په زړه پورې نتائج وړاندې کوى شي.

حزب اسلامي له خاصو وګړو جوړ شوى، غړي ئې ټاکلې مواصفات او ځانګړني لري، د حزب په ليکو کې د غړو تر منځ ځانګړې اړيکې وي، يو د بل په وړاندې مشخص مسئوليتونه پر غاړه اخلي، د ټول حزب په وړاندې د هغوى وجائب په بشپړه توګه ځانګړې بڼه لري، دا حزب د ټولنې د ټولو پېښو او قضاياوو په اړه خاص چلن او دريځ لري، د مشرتابه مواصفات او مسئوليتونه ئې مشخص دي، د همدغو خصوصياتو او اصولو په رڼا کې د سپېڅلو اهدافو په لوري وړاندې درومي.

د دې ټولو ټکو د بشپړ رعايت په صورت کې يو حزب په دې

توانېږي چي د حزب الله او جند الله نوم او حيثيت ترلاسه او هغه برياوي او افتخارات ئې په برخه شي چي الله تعالی ئې له خپلو صالح بندگانو سره ژمنه کړې.

لکه څنگه چي اسلامي حزب د نورو سياسي ډلو په څېر نه وي چي د خپلو مشرانو او چارواکو غوښتنو او هوی و هوس ته تابع او هر څه ئې د نفوذ او واك خاوندانو د ارادې پر محور څرخي؛ همداراز د اسلامي حزب غړي هم د نورو ډلو د غړو او منسوبينو په څېر نه وي چي په خپل ژوند کي نه سپېڅلي اهداف لري او نه خاصو اصولو ته تابع وي، خپلو منحطو شخصي اغراضو ته د رسېدو په لار کي هر جرم او جنايت روا بولي، هر هغه کار ورته جائز برېښي چي له دوی سره خپلو اغراضو ته په رسېدو کي مرسته وکړي، په دې لار کي د هري وسيلې او ذريعې کارول جائز گڼي، د دوی په قاموس کي يوازي هغه څه ناروا او غلط وي چي د دوی له نفسي غوښتنو او هوی او هوس سره تصادم کوي. بلکي اسلامي حزب هغه پر اصولو ولاړ نهضت دئ چي لوړ او سپېڅلي اهداف لري، خپلو سپېڅلو اهدافو ته د رسېدو لپاره سپېڅلي اسلوب او روا لاري غوره کوي، غړي ئې همدغو سپېڅلو اهدافو ته ژمن او همدغو خاصو اصولو ته تابع وي، د منسوبينو د ژوند او مبارزې بېلابېل اړخونه ئې د ثابتو او ټاکلو اصولو او مقرراتو په چوکاټ کي تنظيمېږي، خاص مسئوليتونه ورترغاړه کېږي او د روښانه لارښوونو په رڼا کي د ټاکلو اهدافو په لور وړاندي درومي.

موږ په دې وړوکې رسالې کي د حزب اسلامي د غړو د پراخو مسئوليتونو يوه برخه (د غړي مسئوليتونه) ترسر ليك لاندي راجمع کړي او د هغو کسانو په وړاندي ئې ږدو چي د حزب اسلامي افغانستان د غړيتوب وياړ ئې په برخه شوی او هغه چي هوډ ئې کړی د دې خدای پالو مبارزينو په ليکو کي ځای ونيسي. هيله من يو دا د حق د لاري مبارزين خپل عقائد، عبادات، اخلاق او کړني د اسلام له لارښوونو سره سم او د دې رسالې په رڼا کي عيار کړي، د دې نهضت د عزتمن غړي په توګه د خپلو سترو ايماني مسئوليتونو اداء کولو ته چمتو شي او په دې باور وي چي په دې توګه به د اسلامي نهضت د برياليتوب په اړه الهي وعده حتماً تحقق مومي، هماغه چي قرآن ئې په اړه فرمايي:

وَلاَ تَهِنُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ *

نو مه سست کېږئ او مه غمجن کېږئ او همدا تاسو لوړ يئ که مؤمن وئ.

ومن الله التوفيق

# د غړي مسئوليتونه

هغه څوك چي په دې حزب کي د غړي په توگه منل کېږي، په اړه ئې لاندي مطالب په پام کي نيول کېږي:

## لومړی فصل

### د عقېدې په برخه کي

له دې امله چي زموږ گوند د خاصي عقېدې او ځانگړي نړۍ ليد په رڼا کي د يوه ثابت او ټاکلي دين د حاکميت لپاره مبارزه پيل کړې؛ د گوند هر غړی بايد ثابته کړي چي د دې حزب له عقېدې او کړنلاري سره چي د اسلامي لارښوونو په رڼا کي غوره شوې؛ په بشپړه توگه موافق دئ. ايمان او عقيده ئې د الله تعالی په اړه، د ملائکو، آسماني کتابونو، پيغمبرانو عليهم السلام، د حشر ورځ او د الهي قضا او قدر (تقدير) په اړه له موثقو سرچينو تومنه اخيستې، ټول هغه عقائد او آراء شاته پرېږدي چي له ديني ارزښتونو سره اړخ نه لگوي.

## د دې عقیدې لومړۍ برخه

د دې عقیدې لومړۍ برخه (پر الله تعالی ایمان ) په دې مفهوم ده:

الله تعالی هغه سپېڅلی او ستر ذات دئ چې له هر عیب او نیمګړتیا پاك او منزه دئ، ټول غوره صفتونه او ستاینې د ده له شأن سره ښایي.

الله تعالی هم د کائناتو پنځوونکی او مالك دئ او هم ئې پالونکی او واکمن.

لکه څنګه چې د عالم ټول موجودات د دې ستر پالونکي ملکیت دئ، ټول د هغه حکم ته منقاد او د ده د ارادې او اذن تابع دي. د دې حقیقت له درك او منلو لازمېږي چې:

۱ – بنده خپل رب ځان ته کافي وګڼي او له بې نیاز او وسمن خدای پرته بل څوك خپل پالونکی، مولا، ملاتړ، مرستندوی او د دعاګانو قبلوونکی ونه ګڼي.

۲ – له الله تعالی پرته هیڅوك د ګټې او زیان رسوونکی ونه ګڼي، او باوري وي چې د اسبابو او وسائلو په لړ کې د هر څه ګټه او زیان د الله تعالی په اذن او ارادې پوري تړاو لري. د دغه باور له امله نه له الله تعالی پرته له بل چا وېره او ډار کوي، نه پر بل چا توکل او اتکاء کوي، او نه د چا پر ملاتړ پوري خپلې هیلې او طمعې تړي، ځکه الله تعالی ټولواك دئ او د هر څه اختیار د ده په لاس کې دئ.

۳ – د الله تعالی له درشل پرته هیچا ته د احتیاج لاسونه اوږده نه کړي،

له هيچا پناه ونه غواړي، له الله تعالى پرته هيڅوك د داسي مرستندوى او ملاتړ په توګه مرستي ته ونه بلي چي له اسبابو او وسائلو پورته ئې اغېزمن وګڼي، د هيچا په اړه دا غلطه انګېرنه ونه لري چي كولى شي د پالونكي رب اراده او سنن بدل او الهي قضاء تم كړي، ځكه د الله تعالى په پراخ ملك او د دې عالم په پراخي غېږ كي ټول مخلوقات فقط ده ته اړ او محتاج او د ده په وړاندي تسليم او منقاد دي، الله تعالى نه په خپل ملك كي كوم شريك لري او نه په واكمنۍ او ربوبيت كي، ټول د ده مطيع بندګان دي نه شريكان، كه دا ملائكي دي، يا پيغمبران عليهم السلام او يا اولياء الله.

۴ – د الله تعالى له درشل پرته بل درشل ته د بنده ګۍ او عبادت سر نه ټيټوي، د نورو لمانځنه نه كوي، د نورو په نوم منښته او نذر نه وركوي، له هيچا سره داسي معامله نكوي چي د باطلو معبودانو په وړاندي ئې مشركان او جاهلان كوي، ځكه يوازي الله تعالى د عبادت لائق دئ او بس.

۵ – له الله تعالى پرته بل څوك مالك الملك او د عالم د چارو واكمن ونه ګڼي، هيڅوك د حكم وركولو او منع كولو د مستقل باالرأى مرجع په توګه ونه بولي او هيڅوك د حاكم او حكم په توګه او د مستقل بالذات شارع او قانون جوړوونكي په توګه ونه مني، د هغو ټولو طاعتونو او بنده ګيو له منلو په قطعي توګه انكار وكړي چي د الله تعالى تر بندګۍ

لاندي نه وي، همدارنګه د دې ګروهې له منلو لازمېږي چي:

۶ – انسان له خپل سرۍ، د هوى او هوس متابعت او عدم احساس مسئوليت لاس واخلي، او د هغه ذات اطاعت او بندګۍ ته په بشپړه توګه او اخلاص سره غاړه کښېږدي چي د اله او معبود په توګه ئې منلى دئ.

۷ – ځان د هيڅ شي بشپړ او بلا قيد او شرط مالك ونه ګڼي؛ بلکي په ټولو شيانو کي حتى په خپل ځان، د خپل بدن په غړو او خپلو ذهني او بدني قوتونو کي د الله تعالى مالکيت په پام کي ولري، هر څه د خپل رب پېرزوينه او عطيه وګڼي او د يوه امانت په توګه په کي تصرف وکړي.

۸ – د خپل خالق او پيدا کوونکي رب په وړاندي د ذمه وال او جواب ورکوونکي انسان په توګه د مسئوليت احساس وکړي او د خپلو بدني او ذهني قوتونو د تصرف په چاره کي تل دي حقيقت ته پاملرنه ولري چي په هغوى کي د تصرف د څرنګوالي له پلوه به د حشر په ورځ د الله تعالى په حضور کي محاسبه کېږي.

۹ – د ښو او بدو د تشخيص په برخه کي او د غوره او ناغوره ترمنځ د تمييز په اړه بايد الهي موازين او معيارونه د خپلو پرېکړو او هيلو يوازيني معيارونه وګرځوي، هغه څه چي الله تعالى د سعادت، نېکمرغۍ او نجات عامل معرفي کړي د فلاح او سعادت عامل ئې وګڼي او هغه

څه چي الله تعالی د تباهۍ او هلاکت سبب ګڼلي د تباهۍ او هلاکت سبب ئې وبولي.

۱۰- د الله تعالی رضاء او د هغه رحمت او پېرزوينه ترلاسه کول او د ده خوا ته تقرب او نږدېوالی د خپلو ټولو نېکو هڅو او د خپل ژوند د ټولو فعاليتونو چورليز او د عطف نقطه وګرځوي.

۱۱- د ژوند په ټولو اړخونو کي؛ په فردي او اجتماعي چارو کي، په اخلاقي او معنوي برخه کي، په اقتصاد، سياست او عمراني چارو کي، او د ژوند ژواك په ټولو بېلابېلو اړخونو کي يوازي الهي هدايات د لارښود او صحيح تګلاري او کړنلاري په توګه ومني او هره هغه طريقه او ضابطه په کلکه مسترده کړي چي د الله تعالی د لارښوونو او ښودل شوو طريقو خلاف وي.د دې عقيدې دوهمه برخه

## د دې عقيدې دوهمه برخه

(پر ملائکو ايمان) په دې مفهوم ده:

سره له دې چي الله تعالی پر هر کار قادر او توانمن دئ، د بل له مرستي بې نياز دئ، خو د کائناتو د چارو د سنبالښت لپاره ئې د فرشتو په نوم داسي مخلوقات پنځولي چي د عالم چاري د هغوی په لاس سنبالوي، دوی د عالم په چارو کي په خپل سر او خپلواکه توګه د هيڅ ډول لاسوهني او تصرف واك او ځواك نه لري؛ يوازي د خپل رب په

حکم او له الهي ارادې سره سم د کائناتو د چارو په سنبالولو او تدبیر او د امورو په ترسره کولو بوخت دي، په بل عبارت؛ هغه څه چي په کائناتو کي رامنځته کېږي؛ له وړې تر ستري پېښي؛ هر څه د ځواکمن او مدبر پیدا کوونکي رب العالمین په اراده او حکم رامنځته کېږي، خو د ثابتو، تغییر نه منونکو او عادلانه سننو مطابق او د هغو فرشتو په لاس چي د ټول عالم د ټولو چارو سنبالښت ورپه غاړه شوی.

## د دې عقیدې درېیمه برخه

د آسماني کتابونو په اړه زموږ عقیده په لاندي تفصیل سره ده:

الله پاك د دې لپاره چي انسان په هغه لوري هدایت شي چي د ده د فطرت، پیدایښت او طبیعي جوړښت غوښتنه ده، تل او د انسان له پیدایښت بیا تر نن پوري او د زمانې په بېلابېلو پړاوونو کي روښانه او بشپړي لارښووني د خپلو غوره پیغمبرانو علیهم السلام په واسطه د انسانانو مخي ته ایښې دي، دغه الهي کتابونه او لارښووني د هغو کلیاتو او اصولو له پلوه په بشپړه توګه یو شان او سره ورته دي چي له ثابتو او تغییر نه منونکو انساني قضایاوو سره تړاو لري، خو په هغو مواردو کي چي له یوې زمانې تر بلي او له یوې ټولني تر بلي توپیر لري او په تغییر منونکو مسائلو پوري مربوط دي؛ د الهي کتابونو او لارښوونو ارشادات هم توپیر لري. هر دین مخکي له دې چي په نوي رسالت سره منسوخ شوی؛ د انساني ژوند د سم او صحیح تنظیم لپاره یوازینی بشپړ لارښود

او د انسان د باورونو او عقائدو لپاره بشپړه او كامله منبع وه، هغه ته ئې ښودلي چي يو له بل سره څنګه اړيکي ولري او د الله تعالى، كائناتو، انسان او د هغه د پيدايښت مقصد په اړه څه عقيده ولري، او د ده څنګه ژوند د الله تعالى په نزد مقبول دئ. اوس يوازي هغه الهي كتاب د لارښود په توګه منل او د هغه هدايات او احكام پلي كول د انسانانو الهي دنده ده چي پر محمد عليه السلام نازل كړی شوی. اوس قرآن د ټولو مخكنيو كتابونو ځای نيولی او د هغوی پر ټولو اساسي مطالبو ئې احتوی كړي. هغه دين چي قرآن ئې معرفي كوي؛ د ژوند د ټولو اړخونو د سالم او روغ سنبالښت لپاره ثابت او روښانه اصول وضع كړي. د دولت او ملت په اړه، د عدالت او اخلاقو په اړه، د قانون او كلتور په اړه، د كسب، كار او پانګي په برخه كي، د عقيدې او عبادت په اړه او په پای كي د دعوت او جهاد په برخه كي؛ داسي نجات بخښونكي لارښووني ئې وړاندي كړې چي د بشريت د نجات او نېكبختۍ لپاره كافي او شافي دي، تر دي نه غوره لارښووني موندلی شو او نه غوره تګلار.

د دې عقيدې او باور مهمي او اساسي غوښتني دا دي:

۱ – مؤمن انسان تر دي وړاندي چي د يوې ټاكلې موضوع په اړه پرېكړه وكړي او پخوا له دې چي د يوه ټاكلي هدف لپاره ګام پورته كړي؛ مكلف دئ وګوري او ځان پوه كړي چي په دې اړه د الله تعالى حكم څه دئ او د يوه مؤمن بنده په صفت د ده مسئوليت څه دئ. دين ئې څه

لارښوونه ورته کړې او څه کول ترې غواړي. نور مسائل به د دوهمي کچي موضوعاتو په توګه او يوازي تر هغه ځايه په پام کي نيسي چي د ديني لارښوونو او هداياتو په محدوده کي ارزښت ورکړی شوی.

۲ – تر کومه ځايه چي انسان ته د خپل ژوند په دائره کي اختيار او خپلواکي ورکړل شوې ده؛ مؤمن انسان به په دې دائره کي په خپله خوښه او رضاء د الله تعالی تشريعي حاکمت داسي مني لکه څنګه چي د کائناتو هره ذره چار او ناچار او اجباراً د خپل رب په وړاندي په بشپړه توګه منقاد او تسليم دي، هر توکی ئې همغه څه کوي چي پرې ګمارل شوی. اصلاً فردي او اجتماعي نظم او د ژوند ژواك هغه طريقه چي د الله تعالی تشريعي حاکميت ته د غاړه ايښودو په پايله کي رامنځته کېږي؛ همدا د دين عملي حقيقت دئ.

۳ – د دين د قائمېدو لپاره که د وګړيز ژوند په برخه کي وي او که د ټولنيز، که د لمانځه، روژې، حج او زکات سره تړاو لري او که له اقتصاد، ژوند ژواك، تمدن او سياست سره اړوند وي، لنډه دا چي د ژوند په ټولو اړخونو کي د دين د حاکميت لپاره د زړه له تل او په مخلصانه توګه هاند وکړي، او د ژوند د هغو غلطو او شيطاني طريقو د ټغر ټولولو لپاره جهاد وکړي چي د الله تعالی د دين خلاف وي، په دې لار کي به له هيڅ ډول سرښندني او قربانۍ ډډه نه کوي.

د الله تعالی د دين په وړاندي د مؤمن مسئوليتونه همدا دي چي د

الله تعالی د دين د بشپړ تحقق او له هر ډول نقص او کمښت، او له هر ډول وېش او بېلتون پرته د دين د غلبې او حاکميت لپاره مبارزه وکړي. د ديني لارښوونو هغه برخه چي يوازي د افرادو له شخصي ژوند سره تړاو لري؛ هر مؤمن مکلف دئ چي پخپل ژوند کي ئې مراعات کړي، خو هغه برخي چي پلي کول ئې له اجتماعي هڅو پرته ناشونی دئ، بايد دا هڅه وکړي چي د ټولني ټول با ايمان عناصر يو موټی او ګډ نظم رامنځته کړي، او د ګډې هڅي او مبارزې له لاري دا برخه پلې کړي، او په دې توګه خپل ايماني مسئوليتونه اداء کړي.

۴ – که څه هم د مؤمنانو اصلي مقصود د الله تعالی رضاء حاصلول او د آخرت سعادت او بريا ده؛ خو دا هدف يوازي په هغه صورت کي ترلاسه کولی شي چي په خپل دنيوي ژوند کي د الهي دين د اقامې او پلي کولو لپاره په خپل ټول توان طاقت او بشپړ اخلاص سره هڅه وکړي. يعني د مؤمن لومړی هدف د دين قائمول او نهايي او حقيقي نصب العين ئې د الله تعالی رضاء ترلاسه کول دي، خو د خپل رب رضاء يوازي له دې لاري ترلاسه کولی شي چي د الله تعالی د دين قائمولو لپاره په صداقت او اخلاص سره هڅه وکړي.

## د دې عقيدې څلورمه برخه

پر انبياوو عليهم السلام ايمان په دې معنی دئ:

الله تعالی د زمکي پر مخ د ټولو اوسېدونکو د هدايت او لارښووني

لپاره د انسانانو له منځ او د دوی تر ټولو غوره ئې د پیغمبرانو په توګه انتخاب کړي او پر دي ئې ګمارلي چي الهي لارښووني په بشپړ امانت سره تر خلکو ورسوي، په خپلو ویناوو او کړنو سره ئې دوی ته بیان کړي، خلك د الله بندګۍ او د الهي دین اطاعت ته راوبلي، په خپلو کړنو سره خلکو ته وښیي چي پر الله تعالی د ایمان معنی څه ده او غوښتني ئې څه، څنګه کولی شي د دنیا او آخرت سعادت او بریا او د خپل رب رضاء ترلاسه کړي، ټول پیغمبران په حقه دي او تر هغه چي د دوی رسالت په نوي پیغمبر او نوي رسالت نه وي تعویض شوی پر ټولو انسانانو د دوی منل، اطاعت او پر لارښوونو ئې عمل کول فرض دي.

د دې لړۍ وروستۍ کړۍ د اسلام د ستر پیغمبر محمد صلی الله علیه و سلم په رسالت بشپړه شوې ده.

د دې عقیدې غوښتني په لاندي ډول دي:

۱ – انسان مکلف دئ ټولي هغه لارښووني او هدایات چي ده ته له محمد صلی الله علیه و سلم په موثقه او یقیني توګه رسېدلي وي له څنډ پرته ومني.

۲ – د کوم حکم د منلو او عملي کولو او له کوم دود دستور د انکار لپاره یوازي دا ورته کافي ده چي دا امر او نهي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له راوړي شریعت او د ده له لارښوونو ثابت وي.

۳ – له رسول الله صلی الله علیه و سلم پرته به هیڅوك د داسي لارښود

او مشر په توګه نه مني چي هر امر ته به ئې منقاد او مطيع وي، په نورو پسي تګ به ئې محض د الله تعالى د کتاب، د پيغمبر د سنت او د اسلامي شريعت په متابعت پوري منحصر وي او هيڅکله به د بل چا آزاد او مطلق متابعت نه مني.

۴ – د ژوند د ټولو معاملاتو په هري معامله کي به د الله تعالى کتاب او د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت د حجت، لاسوند او وروستۍ مرجع په توګه مني، هغه عقيده او طريقه به غوره کوي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شريعت سره موافقت لري او هغه چي د پيغمبر صلى الله عليه و سلم د لارښوونو خلاف ثابته شي لاس به ترې اخلي او لري به ئې غورځوي. همدارنګه هغه مسائل او قضايا چي حل و فصل ته اړتيا لري؛ د حلولو لپاره به ئې يوازي د هدايت همدې سرچينې ته رجوع کوي.

۵ – ټول عصبيتونه به شاته وغورځوي؛ که هغه شخصي تعصب وي او که خانداني، قبيلوي وي او که توکمي، قومي وي او که سمتي، فرقه يي وي او که ګوندي، د چا په اړه ئې مينه، محبت او درناوی دومره نه وي چي د الله تعالى، د ده پيغمبر او هغه حقيقت په اړه چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم وړاندي کړی، د ده محبت او درناوي باندي غلبه وکړي او يا ورسره برابري.

## د دې عقيدې پنځمه برخه:

د قيامت پر ورځ ايمان په دې معنی دئ:

د نړۍ موجوده نظام تلپاتی نه دئ، بلکي بالآخره به يوه ورځ پای مومي، د پای ورځ ئې يوازي الله تعالی ته معلومه ده، د دې عالم له ختمېدو وروسته به الله تعالی بله دنيا پنځوي، په هغې کي به د زمکي پر مخ پيدا کړی شوي ټول انسانان؛ د خلقت له پيل تر قيامت پوري؛ بيا راژوندي کېږي، د هر يوه د ټول ژوند ټول اعمال به محاسبه کېږي او د خپل ښه او بد عمل بشپړه سزا او جزا به ويني. هغه چي د الله تعالی د فيصلې او محاسبې سره سم د ښو او صالحو کسانو په ليکه کي ځای نيسي؛ د جنت مستحق او هغه چي د بدکارو او باغيانو په ډله کي ودرېږي دوزخ ته به ځي او د الله تعالی د عذاب مستحق به گرځي. له دې باور دا په ډاگه کېږي چي د عمل پايله او بدله يوازي د دنيا په ژوند پوري محدوده نه ده؛ بلکي د ژوند له اوسني پړاو وروسته بل تلپاتی ژوند په مخکي دئ؛ هلته به د اعمالو د پايلو لړۍ تر هغه ادامه پيدا کوي چي هر چا ته د خپلو ټولو کړنو مناسبه او بشپړه بدله ورکړی شي. زموږ دنيا يوازي د آزمېښت او ابتلاء دنيا ده؛ د اعمالو قطعي او وروستۍ پايلي په آخرت کي تحقق مومي.

د قيامت پر ورځ د ايمان مهم مقتضيات او غوښتني دا دي:

۱ – د بريا او ماتي، سعادت او شقاوت معيار او ملاك به د موجوده ژوند

خوشحالي او بدحالي نه ګڼي؛ بلکي په دې باور به وي چي په حقيقت کي بريالی او نېکبخت انسان هغه دئ چي د الله تعالی د وروستنۍ پرېکړي له مخي بريالی وګڼل شي او تاواني او بدمرغه هغه دئ چي هلته د د زيانمنو او بدمرغو په ډله کي ونيول شي.

۲ – په موجوده ژوند کي ځان بې مسئوليته ونه ګڼي او خپلسری نه وي، بلکي په هره شېبه او هر پَل کي دي ته پام ولري چي عليم او قهار خدای ته به د خپل ژوند د عملونو او کړنو حساب ورکوي.

۳ – که د خپلو نېکو هڅو او فعاليتونو نتائج د خپل ژوندانه د اوږد بهير په لومړي پړاو کي ترلاسه نکړي او يا د دې خلاف په دنيوي ژوند کي له معکوسو پايلو سره مخ شي او د خپلو غوره او ښو اعمالو له کبله له ستونزو، کړاوونو، مصيبتونو او تکليفونو سره مخ شي؛ دا کار نه يوازي دا چي هغه سست، ناهيلی او بې ارادې نکړي؛ بلکي په دې حقيقت ايمان او باور ئې اراده مضبوطه او هيلي ژوندۍ وساتي چي د خپلو ښو او غوره اعمالو نتائج به حتماً ترلاسه کوي، ټول د خبير او عادل خدای جل جلاله په نزد کي خوندي دي، هغه د هيڅ بنده نېك عمل نه ضائع کوي، د همدې يقين او باور له امله په پوره ډاډ او اطمئنان سره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

۴ – له پرېوتو موخو، دنيا پالني، لنډ ليد، له ژوند سره افراطي ميني، او په ډېر انهماك او ژوري پاملرني سره د دنيوي اغراضو ترلاسه کولو لپاره

له لالهاندو هڅو ډډه وکړي، د خپل نفس رضاء او خوښي د دنيوي ګټو او مقاصدو په حاصلولو پوري ونه تړي، داسي نه شي چي ټولي هڅي ئې د خپل نفس او هوی و هوس په راضي کولو او د نفساني غوښتنو په تأمينولو کي خلاصه شي، داسي وضعيت غوره نکړي چي که دنيوي مقاصدو ته لاس رسی پيدا کړي ډېر خوشحال شي او که ترې محروم شو له غم او خفګانه ومري؛ بلکي د آخرت بريا ئې بايد حقيقي نصب العين او د ټولو فعاليتونو نهايي موخه وي.

## د دې عقيدې شپږمه برخه

پر قضاء او قدر ايمان په دې مفهوم دئ:

د نړۍ پېښي نه تصادفي او په خپل سر رامنځته کېږي او نه پرته له کوم حکمت او مصلحت. پېښي داسي نه رامنځته کېږي چي نه ئې پنځېدنه د ټاکلې قاعدې تابع وي او نه ئې پايلي د مشخصو مقرراتو او ضوابطو تابع، بلکي د هغو ټولو حوادثو ترشا چي پېښېږي د مدبر او حکيم خدای جل جلاله اراده حکومت کوي. د زمکي پرمخ له کوچنۍ پېښي تر سترو حوادثو او بدلونو پوري؛ هر څه چي په خور عالم او پراخ کائنات کي رامنځته کېږي د مقتدر او عظيم پالونکي په إذن او اراده صورت نيسي او پر هري يوې ئې يو حکمت او مصلحت مرتب کېږي. هيڅ پېښه د تصادف له مخي او پرته له يوې منظمي قاعدې او پرته له حکمت او مصلحت شکل نه نيسي، د وني د يوې څانګي د يوې پاڼي له

راپرېوتو د غرونو تر خوځېدو پوري، د غنې د ځالي له ښورېدو تر هغو هيبتناکو او خطرناکو زلزلو پوري چې ستر ستر ښارونه ويجاړوي، د کمزوري مېږي له مړيني د متمدنو او ځواکمنو ولسونو تر له منځه تلو پوري، د يوه څراغ له تياره کېدو د سترو شمسي منظومو تر تياره کېدو پوري، ټول په ټوله د الهي منظمو او ثابتو سننو له مخي او د هغه الله تعالی په إذن او اراده ترسره کېږي چې د هستۍ او کائناتو مطلق مالك دئ.

پر دي عقيدې د ايمان په نتيجه کي پر انسان لازمېږي چې:

۱ – دا تصور به نه کوي چې د ده د مرگ او ژوند په اړه، د عزت او ذلت په تړاو، د ماتي او بريا په ارتباط، او د ده د ژوند په ټولو بېلابېلو حالاتو کي؛ د هستۍ له عواملو هيڅ عامل او د کائنات له عناصرو هيڅ عنصر په خپلواك ډول او د کائنات د بلا شريك مالك له اجازې او ارادې پرته کوم اغېز کولی شي او د ده په برخليك کي د عالم کومه پېښه په مستقله توگه او خپل اختيار سره کوم اثر درلودی شي.

۲ – د دې فکر خاوند به نه يوازي د عالم د ټولو مخلوقاتو په وړاندي د عجز او ناتوانۍ احساس نه کوي، هيڅکله به د هغوی په وړاندي سر نه ټيټوي او لمانځنه به ئې نه کوي بلکي د هيچا له زور او ځواك او له هيڅ پېښي به نه ويرېږي، په زړه کي به ئې له الله تعالی پرته د بل چا ډار او وېره نفوذ نشي کولی او د ځواکمن او مقتدر خدای له ويرې پرته به بله

ویره نه پېژني.

۳ – په هیڅ ډول شرائطو او حالاتو کي به نه ناهیلی کېږي او له هیڅ پېښي به نه پرېشانه او اندېښمن کېږي، واقعات به ئې له داسي خفگان او پښېمانتیا سره نه مخامخوي چي له وړاندي تگ پاته شي؛ بلکي تر هغه چي د کائناتو د حقیقي واکوال له هدایاتو سره سم وړاندي ځي له هري پېښي به د خیر طمع او هیله لري؛ که څه هم دغه پېښه په ظاهره او د ژوند په عادي تول او قیاس کي ماته او تاواني تلقي شي.

# دوهم فصل

# د عمل په برخه کي

د اعتقادي مفاهيمو او ارزښتونو له منلو وروسته؛ د عملي ژوند پوښتنه رامنځته کېږي؛ ځکه چي عقيده د عمل بنسټ دئ؛ او اساساً انسان په خپل عملي ژوند کي هغه شي ته تبارز ورکوي چي وجدان او گروهه ئې پرې حکم کوي او په اصل کي زموږ کړني زموږ د افکارو او وجداني قضاوتونو د تحقق عملي بېلگي دي. په په اعتقاداتو او باورونو کي کړېدنه او انحراف په يقيني توگه د انسان په علمي شخصيت کي د فساد او بې لاريتوب په بڼې کي راښکارېږي؛ که څه هم باطني اخلاص د ظاهري اعمالو په پرتله زيات ارزښت لري خو په شريعت کي د دواړو کمال مقصود دئ.

د دې حزب غړي د هغو کسانو په توگه چي د حزب په گروهه او نړۍ ليد باور لري؛ د خپل عملي ژوند په بېلابېلو اړخونو کي دا مسئوليتونه لري:

## الف - د وګړيز ژوند په برخه کي:

۱ - د خپل ځان په سمي پالني او اصلاح کي داسي ګامونه پورته کړي چي د بدني طاقت له پلوه پياوړی او ځواکمن، د اخلاقو له پلوه متين او دروند، له فکري لحاظه معقول او سليم وي، عقيده ئې پاکه او خالصه، عبادتونه ئې سپېڅلي او بې ريا شي، د خوراك څښاك ذريعې ئې حلالي او روا او د ورځني ژوند چاري ئې ګټوري او منظمي شي.

۲ - د ده ټولي اړيکي او تعلقات د اسلامي لارښوونو په محور وڅرخي، دوستي ئې يوازي د الله لپاره وي او دښمني ئې يوازي د ده لپاره، دوستي او دښمني ئې د الله تعالى د دين په احکامو ولاړه وي.

۳ - په خپل فردي ژوند کي دي لاندي لارښووني په پوره دقت سره رعايت کړي:

الف- خَشْيَةُ اللهِّ فِي السِّرِ وَالْعَلاَنِيَةِ: په پټه او ښکاره له الله تعالى وېره.

ب - وَالْعَدْلُ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَا: د غضب او رضايت په حالت کي د عدالت مراعات.

ج - وَالْقَصْدُ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى: د فقر او شتمنۍ په حالت کي اعتدال.

د - وأن أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِي: له هغه چا سره پيوستون چي اړيکي راسره شلوي.

هـ - وأعطي مَنْ حَرَمَنِي: هغه چا ته ورکړه چي ما محروموي.

و – وأَعْفُوَ عَمَّنْ ظَلَمَنِي: هغه چا ته بخښنه او ترې تېرېدنه چې پر ما ئې تېری کړی.

ز – وأن يكون صَمْتي فِكْرا: او دا چې چوپتيا مې فکر کول وي.

ح – ونُطْقِي ذِكْراً: وينا مې ذکر وي.

ط – وَنَظَرِي عِبرَةً : کتل مې پند اخيستل وي.

ی – وآمرُ بالمعروف و انهی عن المنكر: او دا چې په ښو امر او له بدو ممانعت وکړم.

۴ – تل باوقاره، جدي، هوډمن او هدفمن وي، له چټياتو او له بېځايه او بې گټې مشغولتيا په کلکه ډډه وکړي، له هغو خبرو او غونډو چې گټوره پايله پرې نه مرتبېږي او په کينې او دښمنۍ تمامېږي ځان لرې وساتي او گډون په کې ونکړي، په ځانگړې توگه له لفظي شخړو او بحثونو په ټينگه ځان وژغوري.

۵ – مېړانه او زړه ورتيا ولري، غوره مېړانه د حق په ډاگه کول دي، د حق په بيانولو او اظهارولو کې د هيڅ طاقت پروا ونلري او په دې برخه کې هيڅکله اهمال، مسامحه او مداهنت ونه کړي، خو دي ته ئې بايد پام وي چې د حق په اظهارولو کې اسلامي چلن، ښه او نېکه طريقه هېره نکړي، دا دنده په ښو او گټورو نصيحتونو او ويناوو ترسره کړي، داسې چې مقابل لوری احساس کړي تاسو د هغه لپاره ناصح، امين، رښتينی او مخلص دوست يئ او د خيرغوښتنې په جذبه مو د دې کار

لپاره قدم پورته کړی. د تبلیغ او نصیحت اسلوب مو باید داسي نه وي چي د مقابل لوري کرامت او عزت النفس ته صدمه ورسېږي او د دښمنۍ او کدورت احساس ورته پیدا شي.

۶ – رښتینی او صادق وي، له درواغو په کلکه ځان وساتي، د هغو افواه ګانو له منلو او خپرولو دي ډډه وکړي چي واقعیت ئې په پوره ډول نه وي ورته ثابت شوی او د ثبوت لپاره ئې مؤثق او شرعي شواهد نه وي وړاندي شوي؛ نه یوازي دا چي له منلو او نشرولو دې ډډه وکړي؛ بلکي هغه څوك دي ترې منع کړي چي په دې ناروا کار لاس پوري کوي.

۷ – هیڅکله دي د اټکل او ګمان پر بنسټ قضاوت نه کوي؛ تر هغه چي د مسائلو په اړه پوره څېړنه، غور، څېړنه او ارزونه نه وي ترسره شوې؛ ځان ته دي د اټکل او ګمان پر مټ د حکم کولو حق نه ورکوي.

۸ – د خپلي روزي او معیشت د تأمین اسباب او ذرائعو ته په جدي توګه متوجه وي، یوازي حلال او مشروع وسائل او ذرائع دي کاروي، داسي کسب او کار دي غوره کړي چي پر مټ ئې له یوې خوا پر خپل ځان بسیا او متکي او د ژوندانه له داسي حالت په امان کي وي چي د نورو پر مرستي او معاونت ولاړ وي. او له بلي خوا د کفر، بغاوت او عصیان له ملاتړ او ملتیا خوندي وي. په داسي شرائطو کي چي د دولتي رسمي دندو ترسره کول د تقوی او پرهیزګارۍ په خلاف او حتی له داسي حکامو سره ملتیا او ملاتړ ګڼل کېږي چي له اسلام سره د دښمنۍ

په سنگر کي ولاړ دي؛ په کار ده د رسمي دولتي دندو له قبلولو ډډه وشي.

له همدې امله د دې حزب پر غړو لازمه ده چي د خپل ژوند لپاره آزاد کسب او کار غوره کړي، خو هغه کسان چي له خپلو رسمي دندو د مبارزې د سنگر په توگه استفاده کوي له دې سپارښتني مستثنى دي، خو د خپل ژوند تأمين بايد په مکمله توگه په رسمي دندو او معاش پوري ونه تړي. تر هغه چي دولتي کارونه ئې د حزبي فعاليتونو مخه ونه نيسي او د هغوى ايمان او تقوى ته زيان نه رسوي، غوره ده دا سنگر د نورو په گټه تخليه نکړي، خو دي ته بايد ځير وي چي مسلمان يوازي داسي ځای کي تم کېږي او سنگر جوړوي چي له هغه د جهاد د مورچلي په توگه د اسلام په گټه کار واخلي.

۹ – خپل پاکوالي ته پاملرنه ولرئ؛ کور، جامې، د خوب ځای، د خوراك او څښاك شيان او د خپل کار ځای؛ پاك او سُتره وساتي؛ ځکه چي د دين بنسټ پر پاکۍ او نظافت ولاړ دئ.

۱۰ – پر خپلي گناه او تېروتني د اعتراف جرأت او زړه ورتيا ولري؛ د خپلو مسلمانو وروڼو په سالمه نيوکه تحريك نشي، د هغوى په اړه کينه ونه ساتي؛ بلکي د خپلو وروڼو شرعي او سالمه نيوکه په مننه او احسان ومني.

۱۱ – د خپل لوی او ستر هدف؛ چي اعلای کلمة الله او د الله تعالى د

دين قائمول دي؛ د تحقق لپاره ئې بايد هيڅ ډول سرښندنه او قربانۍ ونه سپموي، خپل هر څه؛ ځان، مال، وخت او د خپل ژوند هره شېبه په دې لار کي ولګوي؛ ځکه چي هيڅ مبارزه له قربانۍ او سرښندني پرته بريا ته نه رسېږي.

۱۲ – د خپل عملي ژوند په ټولو اړخونو کي اسلامي آداب او اخلاق رعايت کړي؛ له غيراسلامي عادتونو او دود دستور په کلکه ډډه وکړي.

۱۳ – هره ورځ بايد د قرآن کريم يوه برخه تلاوت کړي او هڅه وکړي چي لږ تر لږه په مياشت کي يو ځل قرآنکريم ختم کړي. د قرآن مجيد په معانيو او مفاهيمو ځان پوه کړي، د تجويد اصول زده کړي، د پيغمبر صلى الله عليه و سلم احاديث ولولي، د درنو سلفو ويناوي او د لومړنيو مسلمانانو وياړمني کړني مطالعه کړي، د احاديثو په زده کړه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سيرت په لوستلو کي زياته سعي وکړي؛ لږ تر لږه څلوېښت حديثونه حفظ کړي، په عقائدو پوري تړلو مسائلو او په مهمو فقهي اصولو ځان پوه کړي.

۱۴ – تل دي خپل اودس ته پام کوي او تر ممکنه حده دي هڅه کوي چي تل په اودس مجهز وي.

۱۵ – د رمضان مبارکي مياشتي روژه دي په ښه توګه او له خپلو ټولو شرائطو سره سمه ونيسي.

۱۶ – د خپلو پنځو لمونځونو د اداء کولو په برخه کي دي هيڅکله

سستي او غفلت نه کوي، خپل لمونځونه دي د ټولو اړوند شرائطو په مراعات سره په پوره خشوع او خضوع اداء کوي؛ په جماعت سره د لمانځه د اداء کولو لپاره دي جومات ته د تګ هڅه وکړي.

۱۷ – د حزب د لاپیاوړتیا لپاره دي خپل زکات او مالي صدقي د حزب بیت المال ته وسپاري او د خپلي شتمنۍ یوه برخه دي که څه هم لږه وي؛ د مرستي په غرض مسکینانو او محرومانو ته بېله کړي.

۱۸ – د وس او توان په صورت کي دي د حج او د بیت الله شریف په زیارت کولو مشرف شي.

۱۹ – تل دي د الله په لار کي د جهاد او شهادت په فکر کي وي او د دې لپاره دي له هره پلوه تیاری او چمتووالی ولري. د اوضاع او شرائطو له غوښتنو سره سم دي په اسلامي جهاد کي برخه واخلي او په دې اړه دي خپل ټول ایماني مسئولیتونه په پام کي ولري.

۲۰ – خپله توبه دي تل تجدید کړي او د الله تعالی له دربار دي د خپلو مخکنیو ګناهونو او غلطو کړنو بخښنه او مغفرت وغواړي، هوډمن دي وي چي په ګناه کي له بیا بیا واقع کېدو ځان وساتي، هره شپه مخکي له دې چي بیده شي؛ خپل ورځني عملونه دي وارزوي، خپل قیمتي او ارزښتمن وختونه دي بې ځایه ضایع نکړي، د خپل ژوند هره شېبه باید د یوه نېك او غوره عمل په سرته رسولو کي تېره کړي.

۲۱ – خپل غرائز دي په سم لوري هدایت او په سمه توګه وکاروي، خپله

هوی او هوس او نفسي غوښتني دي مهار کړي، له زنا، وژني، سود، غلا، جواري او له نورو سره له ناروا معاملې دي په کلکه ځان وساتي.

۲۲ – په خوراك څښاك كي دي له اعتدال كار واخلي، د چای په څېر غیرضروري څښاك كي دي اسراف نه كوي، د نشه يي توكو له كارولو دي په كلكه ډډه وكړي، او هڅه دي وكړي چي له سگرټ او نسوار ځان لري وساتي.

۲۳ – باید حساس او حیاناك وي، د ښو او بدو په وړاندي بې توپیر او بې پروا نه وي، د انفعال او حساسیت استعداد ئې پیاوړی او فعال وي، داسي چي د ښو كارونو په لیدو خوښ شي او د ناوړو او ناسمو كارونو او بدیو په لیدو سره متأثر او غمجن شي. د مؤمنانو په وړاندي متواضع وي او د بې ایمانو وګړو په مقابل كي ذلت ته غاړه كښېنږدي او له غوړه مالۍ او تملق ځان وساتي.

۲۴ – د لباس او جامو د څرنګوالي په برخه كي باید متوجه وي او په دې برخه كي اسلامي حدود رعایت كړي، د هغو جامو له غوره كولو ډډه وكړي چي د ده له ایماني غیرت او اسلامي ځانګړني سره سمون او مناسبت نلري. هڅه وكړي له سنګین، ساده او ارزان بیع لباس سره ځان عادت كړي، د فیشن او موډ تابع نه وي، او پر قیمتي او فاخره جامو له بې ځایه لګښت ډډه وكړي.

۲۵ – عاطفه لرونكی، زړه سواند، شرافتمن او سخي وي، په انسان او

څارويو مهربان او زړه سواند وي، زغم، حوصله او ځان تېرېدنه ولري، له ټولو خلکو سره د ښه او غوره چلن په غوره کولو سره د اسلام اجتماعي اخلاق او اداب رعايت کاندي، په کشرانو شفقت او مشرانو ته درناوی ولري، په غونډو او مجالسو کي د غونډو اړوند ادب مراعات کړي، د چا کورته دننوتو په وخت د کور له خاوند اجازه وغواړي.

۲۶ – د خپلي ژمني او تعهد په اړه ريښتينی او صادق وي، له بدعهديو او وعده خلافيو چي د ده له اسلامي حيثيت او وقار سره اړخ نه لګوي په کلکه ځان وساتي.

۲۷ – هڅه وکړي چي ليك لوست زده کړي؛ حزبي ليکني، اعلاميې، خپروني، ورځپاڼي او اسلامي مجلې او کتابونه چي په لاس ورځي ولولي، د مسلمانانو د وضعيت او حالاتو په اړه ځان خبر کړي.

## ب - د اجتماعي ژوند په برخه کي:

د مؤمنو وګړو اجتماعي مسئوليتونه ايجابوي چي د يوې اسلامي ټولني د جوړولو په لار کي؛ صادقانه او مخلصانه هڅه وکړي، او خپل ټول شته امکانات په دې برخه کي وکاروي، په دې اړه د حزب د غړو مسئوليتونه په لاندي ډول رالنډېږي:

اول – په لومړي قدم کي د يوې داسي کورنۍ د جوړولو په لار کي چي په اخلاقي ارزښتونو او اسلامي تعليماتو سنبال او ښکلې وي پراخه هڅه

او هاند وکړي، دا شرائط برابر کړي چي د کورنۍ هر غړی ئې د ده مفکوره، نظريه او سلوك په خپل ورځني ژوند کي اختيار کړي، درناوی ورته ولري او رعايتول ئې ضروري او لازمي وبولي، بيا دي دا هڅه وکړي چي د کورنۍ غړي ئې په اسلامي تهذيب او آدابو مهذب شي، ځان ته متدينه او خدای پاله مېرمن او د ژوند ملګرې انتخاب کړي، حقوق او وجائب ئې په بشپړ ډول اداء کړي، خپل اولاد سم وروزي، د هغوی په روزنه کي د اسلام روزنيز اصول او لارښووني په پام کي ولري، په درېيمه مرحله کي د کورنۍ غړي او خپل نږدې خپلوان د حزب دعوت او کړنلاري قبلولو ته چمتو کړي، له هغوی سره د خپلوۍ اړيکو ته تر حزبي تعلقاتو او روابطو ارتقاء ورکړي.

دوهم: د خپلو حزبي ورونو په وړاندي لاندي مسئوليتونه پر غاړه لري:

۱ – د ملګرو د اصلاح لپاره تر ممکنه حده سعي وکړي او په دې برخه کي ټول اړين ټکي مراعات کړي.

۲ – د خپل مسلمان ورور په اړه د خواخوږۍ او خير غوښتني احساس ولري، د هغه لپاره د هغه څه هيله وکړي چي د ځان لپاره ئې خوښوي او کوم څيز چي د ځان لپاره نه خوښوي د خپل مسلمان ورور لپاره ئې هيله ونه کړي، د خير غوښتني دا احساس بايد د مؤمنو غړو د اخلاقي شخصيت په جوړښت کي د قربانۍ او ايثار تر هغي کچي وده ومومي چي د خپل مسلمان ورور ګټو او مصالحو ته پر خپلو شخصي ګټو او

مصالحو ترجيح ورکړي.

٣ – له خپل مسلمان ورور سره ئې بايد معامله د زړه سوي او اخلاص پربنسټ ولاړه وي، داسي چي زړه سوی، شفقت او محبت ئې کار هغه ځای ته ورسوي چي د ژوند سختي او بدي شېبې ئې هغه مهال وي چي وګوري مسلمان ورور ئې له ستونزو او کړاوونو سره مخ دئ او مصيبتونو راګير کړی، هغه بايد د خپل همسنګر ورور لپاره ډېر لږ زيان هم ونه زغملی شي.

۴ – د خپلو همسنګرو ورونو د تېروتنو په وړاندي د بخښني او تېرېدني چلن غوره کړي، د هغوی له سهوو او اشتباهاتو سترګي پټې کړي، البته په هغو مواردو کي چي شخصاً په ده پوري اړه ولري؛ ځکه دا يو طبيعي او مسلم حقيقت دئ چي د غړو په خپلمنځيو تعلقاتو کي هرومرو داسي پېښي او واقعات رامنځته کېږي چي له کبله ئې د يوه له کړنو او تصرفاتو بل ته څه ضرر رسېږي، د پرېشانۍ، تکليف او ځورېدني موجبات ئې برابر وي؛ ان چي د دوی ترمنځ کله کله داسي کړني هم رامنځته کېږي چي په قانوني توګه د قصاص او بدل وړ وي؛ خو د مؤمنو غړو د صميميت او ورورګلوۍ تعلقات دا ايجابوي چي په ټولو داسي مواردو کي قهر او غوصه وځپل شي، په پراخه سينه او بشپړ زغم سره چلن وشي، له غچ اخيستني ځان وساتي، د لويانو په څېر د بخښني او تېرېدني طريقه خپله کړي، د حزب د لوړو مصالحو لپاره او د حزب د

غړو ترمنځ د ورورګلوۍ او مخلصانه اړیکو د پایښت په موخه؛ پارېدلي او د غچ اخیستني احساسات مهار کړي.

۵ – متقابل احترام او د (أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ) رعایتول؛ د هر مؤمن غړي وجیبه ده.

۶ – د ملګرو ترمنځ د ورورګلوۍ او صمیمي اړیکو د رامنځته کولو او د خپلمنځي بې باوریو، بدګمانیو او تاوتریخوالي د رفع کولو لپاره تر ممکنه حده سعي وکړي او له ټولو فرصتونو او ممکنو وسائلو کار واخلي، داسي فضاء رامنځته کړي چي د نهضت غړي یو د بل لپاره د یوه بدن د غړو په څېر شي. د کرکي او نفرت ټغر ټول شي. له داسي کارونو چي د بې باوریو او نفرت باعث کېږي په کلکه ډډه وکړي. په دې برخه کي دي لاندي ټکي مراعات کړي:

۱ – باید له غیبت ځان وساتي او هغه کسان خپلي اشتباه ته متوجه کړي چي دا کرکجن کار کوي؛ او د دې کار د تکرار او بیا کولو مخه ونیسي.

غیبت دې ته وایي چي یوکس د چا په غیاب کي د هغه په اړه داسي څه ووایي چي که هغه ترې خبر شي نو د خفګان او ځورېدني موجب ئې شي؛ که څه هم دغه خبري رښتیا او د واقعیت مطابق وي. په بل عبارت د اشخاصو واقعي کمی او عیب د دوی په غیاب کي په ډاګه کول غیبت دئ او کبیره ګناه ګڼل شوې، په دې برخه کي صراحت، کنایه، اشاره او یا د نورو د خبرو تأییدول ټول حرام دي، په کار ده چي

له دې ټولو ډډه وشي؛ يوازي په لاندي صورتونو کي د نورو په اړه او د هغوی په غياب کي د رأيي څرګندول جائز ګڼل کېږي:

الف – د ظلم او ظالم په خلاف هغه چا ته شکايت کول چي طمع کېږي هغه د ظلم د مخنيوي څواك او طاقت لري.

ب – د اصلاح په غرض د کوم شخص او يا کومي ډلي بدۍ داسي چا ته بيانول چي کولی شي د دوی د اصلاح په اړه کوم مؤثر کار وکړي؛ په دې هيله چي هغوی اصلاح شي.

ج – د استفتاء لپاره د کوم مفتي يا ديني عالم په وړاندي د پېښي څرنګوالی بيانول.

د – د کوم شخص يا ډلي له شر د نورو خبرول؛ د دې لپاره چي د هغوی له ضرر خوندي پاته شي.

هـ – د هغو کسانو خلاف په څرګنده غږ پورته کول چي د فسق او فجور په خپرولو بوخت دي او د دوی د بدکاريو په اړه نيوکه او اعتراض کول.

و – څوك چي په بد لقب دومره مشهور شوی وي چي په دغه لقب له يادولو پرته د هغه پېژندنه ممکنه نه وي؛ نو په دې صورت کي د معرفي او پېژندني لپاره؛ نه د تنقيص او تذليل لپاره؛ د دغه لقب کارول جائز دي.

له پورته صورتونو پرته د اشخاصو په غياب کي ناسمي تبصرې او بدي ويناوي په مطلق ډول حرامي دي.

که دغه بدي ويناوي د شخص په نه شتون کي وشي غيبت دئ او که دروغ او کذب وي بهتان دئ او که د نورو په منځ کي د دښمنۍ او عداوت د را پيدا کولو په موخه وشي؛ چغلي حسابېږي. د اسلامي شريعت له مخي درې واړه حرام دي. په اسلامي ټولنه کي هر وګړی مکلف دئ که د ده په مخکي داسي کوم کار ترسره کېږي او د کوم شخص په اړه غيبت کېږي يا اتهام او تور واردېږي؛ روا نه ده چي په چوپتيا سره ئې واوري او هيڅ عکس العمل ونه ښيي؛ بلکي بايد هغه رد کړي، که چېري له شرعي او جائزي اړتيا پرته د نورو د اشتباهاتو، غلطو کړنو او بدو اعمالو يادونه وشي بايد د دې غيبت او تور عامل له دغه جرم او ګناه منع کړی شي او له عليم او خبير خدای ئې ووېروي.

۲ – د نورو د عيبونو او رازونو د کشفولو په لټه کي ونه اوسي او د خپلو ورونو د حالاتو او معاملو په اړه بې ځايه لټون او څېړنه ونکړي؛ دا کار که د بدګمانۍ، بدنيتۍ او يا د خپلي انديښنې د رفع کولو لپاره وي؛ په هر حال کي شرعاً ناروا دئ، د مؤمنانو کار دا نه دئ چي د نورو پټ او تر پردې لاندي اسرار ځان ته معلوم کړي، او دا لټه وکړي چي پوه شي څوك څه عيب لري؟! د نورو پټ ليکونه لوستل او د نورو خبرو ته غوږ نيول، او دې ته ورته کارونه ناروا او بد اخلاقي شمېرل کېږي، د فساد، اختلاف او نفرت سبب ګرځي.

۳ – د وګړو پر شخصيت، کرامت او عزت له تېري ځان وساتي؛ ځکه چي

تر ټولو ناوړه او ستر تېری او زياتی هغه دئ چي د مسلمان د عزت او حيثيت پر حريم ترسره شي. هر مسلمان مکلف دئ چي د خپل مسلمان ورور له کرامت او حيثيت دفاع وکړي، پرېنږدي چي څوك د هغه پر کرامت او حيثيت تېری او تجاوز وکړي. زموږ له نظره هغه کسان چي د مسلمانانو په ليکو کي د خپل مسلمان ورور له شخصيت او عزت د دفاع جرأت او زړه ورتيا نلري او اجازه ورکوي چي د خپل حزبي ورور د عزت او کرامت په نسبت ئې بې حرمتي وشي؛ ښکاره ده چي داسي شخص د دې وړتيا او ځواك نلري چي له دې په ستونزمنو حالاتو کي چي سرښندنه او قرباني غواړي؛ له اسلام او د مسلمانانو له ګټو دفاع وکړي، نه ښايي داسي شخص ته د مخلص او سرښندونکي په سترګه وګورو او په هغه اعتماد وکړو، هغه کسان چي په عادي حالاتو کي کولی شي له خپلو همسنګرو وروڼو دفاع وکړي؛ ښکاره ده چي په سختو او ستونزمنو حالاتو کي به هم د دې وړتيا او اهليت ولري چي د خپل ځان او مال د قربانۍ په بيع په ټوليزه توګه له حزب اسلامي د دفاع سنګر ونيسي.

۴ – بايد بدخولی، بد ژبی او ښکنځلمار نه شي، له بدو ويناوو، سپکو سپېرو خبرو او ښکنځلو په جدي توګه ډډه وکړي، هم د عادي خبرو پرمهال او هم د شخړو او لفظي مناقشو او مباحثو په دوران کي دې ته سخت متوجه وي چي د اسلامي اخلاقو له پولي وانه وړي او د غيراسلامي اخلاقو لمني ته پرې نه وځي.

د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد؛ د مقام او مرتبې له پلوه تر ټولو ناوړه او پرېوتی کس هغه بدخولی انسان دئ چي د بدي ژبي له وېري ئې خلك له هغه سره له اړیکو ساتلو او مخامخېدو ځان ساتي. باید له هغو سره هم د ملاقات او مصافحې په وخت کي ښه او غوره چلن وکړو چي په اړه ئې بد گماني لرو او حتی د هغوی په بدیو باوري یو، باید زموږ د ملگرو اخلاقي لوړوالی په دغسي ظروفو او شرائطو کي راڅرگند شي، له مسلمانو وروڼو سره زموږ اخلاقي چلن او د مخامخېدو څرنگوالی باید دومره ښکلی وي چي د نورو د رشك او حیرانتیا باعث شي.

۵ – د داسي خصوصي غونډو له دائرولو باید ډډه وشي چي په نورو کي د پردي والي احساس راولاړوي او داسي انگېري چي دوی په دې غونډو کي د گډون حق نلري او گواکي دلته داسي مسائل څېړل کېږي چي له دوی پټ ساتل کېږي، یوازي د لزوم په صورت کي رسمي غونډې کېدی شي په سري او غیرعلني توگه دائري او اسرار خوندي پاته شي، په دې غونډو کي هم باید داسي شرائط او حالت رامنځته نشي چي ځیني وانگېري په دې غونډه کي له عضویت سره سره د هغې له داخلي اسرارو بې خبر ساتل کېږي او د غونډې اړوند کارونه په مخفي ډول ترسره کېږي؛ او په داسي حال کي چي ټول د غونډې برابر او مساوي الحقوق غړي دي خو لږ شمېر پرېکړي او فیصلې کوي او ټوله غونډه په ناقانونه توگه د هغوی د ارادې پر محور څرخي. په ځانگړې توگه له

هغو دريځونو بايد په کلکه ډډه وشي چي د نهضت دننه د ډلبنديو د شتون شکونه راولاړوي، په اصل کي هغه وړانديزونه چي لومړی د لږ شمېر غړو په منځ کي مطرح شي او وروسته دا ټاکلې ډله په ناقانونه توګه په ګډه د هغه د تصويب او په نورو د منلو هڅه کوي، او د دوی تبارز داسي ښيي چي په پټه ئې په خپلو کي توافق کړی، کار ئې د جلا ډلي په توګه ترسره کېږي او وروسته د غونډې د ټولو غړو په وړاندي واحد دريځ غوره کوي؛ دا کار ډېر مضر او غيراصولي دئ، عقدې او کينې راولاړوي او د اختلافاتو لامل او باعث ګرځي.

٦ – د ملګرو نظرياتو او وړانديزونو ته درناوی او داسي شرائط برابرول چي هر څوك وکولی شي خپله رأيه په بشپړ اطمئنان او آزاده توګه د نورو په وړاندي کښېږدي او خپل دليلونه وړاندي کړي. د وروښو پر نظرياتو له استهزاء او تمسخر او له داسي حرکاتو او غبرګونونو ډډه کول چي ښيي او دا اندېښنه راولاړوي چي د دوی وړانديزونه بې ارزښته او بې اهميته ګڼل کېږي. هغه مهال چي يو ورور خبري کوي او يا د يوې ځانګړې موضوع په اړه کوم وړانديز لري او خپل نظر وړاندي کوي؛ بايد د هغه خبرو ته پوره پاملرنه وشي او د نظرياتو له بې ارزښته تلقي کولو ئې او په بل څه ځان مصروفولو ډډه وشي.

همداراز د نظر او رأيي وړاندي کولو په دوران کي هر غړی بايد برئ الذمه وګڼل شي، د شك په نظر ورته ونه کتل شي، د هغوی نظريات

که څه هم ناسم وي؛ له حزب سره په عدم اخلاص او بده او ناوړه اراده حمل نکړی شي، هيڅوك دي دا حق ځان ته نه ورکوي چي يو غړی په دې دليل د نيوکو وړ وګڼي او محکوم ئې کړي چي ناسم او نامعقول نظر ئې وړاندي کړی، خپل دلائل ئې د نورو په وړاندي ايښي، په دې هيله چي هغوی ئې ومني، خو نه ئې په خپل سر د خپلي رأيي په ارتباط کوم عملي ګام اخيستی او نه ئې په يوه اړخيزه توګه او د حزب د اصولو او مقرراتو خلاف کوم ناقانونه کار کړی. د خونديتوب او مصونيت دا احساس بايد د حزب د غړو ترمنځ او په ځانګړې توګه د حزب په رسمي غونډو کي موجود وي چي د حزب هر غړی مطمئن او ډاډه وي چي کولی شي په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره خپل آراء مطرح کړي او په هغه صورت کي چي معقول دلائل، شرعي اسناد او شواهد ولري د نورو د تأييد او منلو وړ وګرځي. د دې ټکي عدم مراعات د حزب غړي دې ته هڅوي چي د خپلو نظرياتو د تحقق لپاره داسي غيراصولي، غيرطبيعي او سري لاري ولټوي چي په پايله کي ئې اختلافات منځ ته راځي.

٧ – په هر حالت کي بايد سمه او عادلانه پرېکړه وکړي؛ نه له چا خفګان او نه له چاسره محبت؛ هغه د حق او انصاف له بشپړ رعايتولو بې لاري نکړي.

٨ – د نورو په پرتله ځان لوړ ونه ګڼي، د امتياز احساس ونه کړي، له داسي حرکاتو ډډه وکړي چي ښيي دی ځان تر نورو لوړ او ممتاز ګڼي،

باید د ناروا او ناجائزو توپیرونو او امتیازاتو ټغر ټولولو لپاره هڅه وکړي، د دې طمع دي نلري چي نور باید ده ته په ځانګړي اهمیت قایل وي، د هري غونډې مشر او د هري ډلي رئیس به وي، په غونډو او ناستو کي باید تل د مشرانو خاص ځایونه ده ته ځانګړي شوي وي!! په هر مقام او رتبه کي چي وو د دې حق نلرو چي تر نورو ځان لوړ او ممتاز وګڼو، او دا طمع ولرو چي نور وګړي دي د بې اهمیته او بې ارزښته کسانو په توګه زموږ تعظیم او درناوی وکړي، نه ښایي د هغو قربانیو او سرښندنو احسان پر نورو بار کړو چي ورکړي مو دي.

٩ – د نورو د اصلاح او ارشاد په اړه باید د نیوکي او مجرد انتقاد پر ځای؛ اسلامي طریقه؛ په نېکیو امر او له بدیو منع کول؛ غوره شي، یعني باید مخکي له دې چي مسلمان ورور ئې د ګناه په ډنډ کي پرېوځي د هغه د روزني او تربیې لپاره دي ملاوتړي او دا شرائط ورته برابر کړي چي د نېکیو لوري ته مائل شي، یوازي نېکیو ته د هغه په متوجه کولو او بللو بسنه ونکړي بلکي د ده د شخصیت د بشپړولو په برخه کي هڅه وکړي، خو که هغه د ده له هڅو سره سره د ګناه لوري ته د تګ پرېکړه کوي نو تر دې وړاندي چي هغه د ګناه په ډنډ کي پرېوځي مخه ئې ونیسي، خو په ګناه کي له پرېوتو وروسته مکلف دئ د هغه د راایستلو هڅه وکړي، پر عیب او ګناه ئې پرده وغوړوي او دا سعي وکړي چي د ګناه له تکرار ئې مخنیوی وکړي، نه دا چي د هغه تېروتنه د نورو په وړاندي د ده مخي ته کښېږدي، رسوا او سپك ئې کړي او په دې سره د

ګناه مرتکب هغه پړاو ته ورسوي چې د ناصح او ناقد په خلاف دښمني ته ملا وتړي، نصیحت ئې پر خپل حیثیت او عزت تېری تلقي کړي، خپله ګناه عادي او معمولي وښیي، او تکرار ته ئې وهڅول شي. او همدا د غلطیو، ګناهونو او اشتباهاتو افشاء د دې باعث شي چې له ګناه شرم او وېره او هیبت ئې د خلکو په نظر کې کمزوری شي.

۱۰ – نه ښايي په مهمي او ځانګړې دندي ټاکل کېدا د دې باعث شي چې د سرتوب احساس وکړي او د نورو په پرتله ځان لوړ او ممتاز وګڼي، او په کومي مشخصي دندي د نه توظیف په صورت کې باید د حقارت احساس ونکړي، داسي ونه انګېري چې د ده په اړه سپکاوی شوی، اصلاً باید د منصب، مقام او کرسۍ غوښتنه د یوې ناروا او ناجائزي غوښتني او هیلي په توګه وپېژندل شي، د حزب هر وګړی باید ځان مکلف وګڼي چې د حزب په لیکو کې د مقام غوښتني تمایل او تلوسه وځپي، او د ورونو په منځ کې داسي روحیه راپیدا کړي چې هیڅوك قدرت او مقام ته د رسېدو هیله، توقع او لټه ونکړي، عام ذهنیت داسي عیار شي چې د مقام غوښتني احساس له منځه لاړ شي او د دندي قبلول د یوه اضافي مسئولیت قبلولو په توګه وپېژندل شي، د حزب غړي باید وپوهېږي چې هغه وګړي د حزب ګټور غړي نه دي چې د قدرت او مقام حاصلولو لپاره هڅه کوي، په اصل کې داسي کسانو ته د مقام او منصب سپارل ناروا او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لارښوونو خلاف کار دئ او د نهضت لپاره ناوړه پایلي لري. د دې ترڅنګ باید ځان ته دا حق ورنکړي

چي که د حزب د مشرتابه له لوري څوك د كومي دندي لپاره وړ ګڼل کېږي د دې پرېکړي او انتخاب په اړه نیوکي وکړي، له هغه سره د تعاون او همکارۍ پر ځای خنډونه او موانع ورته راپیدا کړي او پرې نږدي هغه خپلي چاري په ښه توګه او موفقانه ترسره کړي. دا ناروا او شیطاني کار د نهضت لپاره دومره ستري ستونزي رامنځته کوي چي جبران ئې ګران وي.

۱۱ - دا د حزب اسلامي د هر غړي مسئولیت دئ چي د خپلو حزبي وروڼو په اړه خپل اخلاص او محبت څرګند کړي، هر څوك باید له ده سره په خپلو اړیکو، ملاقاتونو او تماسونو کي د خوښۍ احساس وکړي، له هر چا سره په ورین تندي مخامخ شي، په مخامخېدو کي سوړ او نیولی نه وي، داسي چلن غوره نه کړي چي ښیي دی نورو ته اهمیت نه ورکوي او د هغوی په اړه بې پروا دئ، هغه وروڼه چي په دې ناروغۍ اخته دي، هغوی په اصل کي له هدف سره خاصه علاقه او د زړه تړاو نه لري، هر څومره چي موږ له خپلو فکري اهدافو سره کلك او مضبوط تړاو او علاقه ولرو د همدې په تناسب به له هغو کسانو سره مینه او علاقه لرو چي له موږ سره یو ځای او څنګ په څنګ د ګډ هدف په لوري خوځي. دا کار سخت ناروا او نا جائز دئ چي موږ د خپلو وروڼو په اړه د استغناء او بې پروایي ښیو او په وړاندي ئې داسي دریځ غوره کوو چي زموږ له تماس او چلن بده خاطره ولري؛ ان چي کرکه او نفرت ئې راوپارېږي. موږ باید د هغو په اړه چي په اخلاص او صداقت سره

موږ ته رانږدې شوي او د وروری لاس ئې رااوږد کړی؛ د زړه په تل کې د ژوري میني او علاقې احساس وکړو او د هغوی د صمیمیت راجلبول د خپلي مهمي دیني وظیفې په توګه په پام کې ولرو.

۱۲ – د خپلو مسلمانو همسنګرو او همليکو ورونو په اړه د ایثار او قربانۍ روحیه لرل؛ د ایمان تقاضا ده، په اصل کې د مؤمن تعلق له مؤمنانو سره داسي وي لکه سر ئې چي له ټول بدن سره لري. هغه باید د ایمان د خاوندانو تکلیفونه داسي احساس کړي لکه سر چي د بدن د هري برخي تکلیف او درد احساسوي او د هغې په اړه بې پروا نه وي.

## دریيم – حزبي مسئولیتونه:

د دې حزب غړي د ټول حزب او د فعالیتونو په وړاندي ئې دا مسئولیتونه لري:

۱ – په ټول توان سره د حزب له پریکړو او تصمیمونو دفاع وکړي، هغه دریځونه په کلکه محکوم کړي چي د حزب د سیاست د مقتضیاتو خلاف غوره کیږي. د حزب د تصامیمو د تحقق په لار کي هیڅ ډول سرښندنه ونه سپموي.

هغه تحلیلونه، قضاوتونه او د نظریاتو ارائه چي د حزب د عمومي لیدلوري، کړنلاري او سیاستونو خلاف وړاندي کیږي؛ په کلکه ئې رد کړي، په ځانګړې توګه هغه مهال ئې په ټینګه مخه ونیسي چي د پلي

کېدو او خپرېدو لړۍ ئې پيل شوې وي؛ په لومړي سر کي پخپله د هغې ځواب ووايي او په هماغه ځای کي د دې کار مخه ونيسي او په دې سربېره د حزب اړوند چارواکي متوجه کړي او د هغوی په همکارۍ د حزب د مصالحو د مخالفو فعاليتونو د مخنيوي لپاره په صادقانه او جدي توګه هڅه وکړي.

۲ – په خپلي ورسپارل شوې دندي کي په صداقت او په داسي شوق او ذوق په کار بوخت وي چي د هغه له خوښۍ ډك فعاليت د دې باعث شي چي د نورو ورونو همت څپانده شي او د حزب په غړو کي د شوق او ذوق ولوله رابيداره کړي، نه دا چي د هغه سست سلوك او بې نشاطه چلن په نورو وګړو کي هم سستي، بې همتي او مصلحت طلبي رامنځته کړي.

۳ – په هيڅ حالت کي او هيچا ته جائزه نه ده چي د حزب په غړو کي د جبن، بې زړه توب، بې ځايه احتياط، فرصت طلبي، شاته تګ او د عافيت په کونج کي د کښېناستو روحيه راپيدا کړي، او د دې پرځای چي هغوی هدف ته د رسېدو په لار کي ثبات، استقامت، زغم او سرښندني ته تشويق کړي؛ برعکس شرائطو ته تسليمېدا او له حاکمي وضع سره جوړ جاړي او معامله ګرۍ ته ئې تيار کړي.

۴ – په بيت المال پوري اړوند شتمنيو او شيانو کي هيڅکله او په هيڅ حالت کي په بې احتياطۍ او بې پروايۍ سره تصرف ونکړي، په حزب

پوري اړوند شتمني؛ خپل شخصي مال ونه ګڼي او د حزب عمومي مالکيت د حزب د ټولو شتمنيو او اړوند مالونو په برخه کي محترم وګڼي، د حزب له شتمنيو او امانتونو چي څه د ده په واك کي وي؛ ترهغه چي حزب غوښتي وي چي دی تري استفاده وکړي؛ د حزب د مسئولينو او مشرانو په اجازه او اذن دي ګټه تري واخيستل شي، خو له هغي شيبي وروسته چي په اړه ئې بله پريکړه وشي او د بل شخص په واك کي د ورکولو او کارولو تصميم ونيول شي؛ له ځنډ پرته به ئې تسليموی او هيڅ ډول پلمه او حيله به د امانتونو په مسترد کولو کي نه کاروي.

۵ – د حزب د تصاميمو، پريکړو او منصوبو په برخه کي بايد بې تفاوته او بې پروا نه وي، په دې اړه بايد تل د مسئوليت احساس وکړي او خپل ارزښتناك مطالب، ضروري مشورې او ګټور نظريات د حزب مشرتابه ته وړاندي کړي، دا ټول کارونه بايد تر هغه وړاندي ترسره شي چي د مسائلو په اړه وروستی تصميم نيول کيږي، خو وروسته له هغه چي په دې برخه کي وروستۍ پريکړه صادره شي؛ هيڅوك دي دا حق ځان ته نه ورکوي چي د حزب د قانوني تصميمونو او پريکړو په خلاف؛ مخاصمانه دريځ غوره کړي او د خپل شخصي نظر په طرحه کولو سره اندېښنې، اختلاف او بې نظمي رامنځته کړي، داسي کړنه؛ جرم او ګناه ګڼل کيږي.

ورونه بايد هيڅ ته د دې اجازه ورنکړي چي د خپل لياقت او وړتياوو د ابراز او اثبات په موخه د ورونو په منځ کي داسي مسائل مطرح کړي چي اصلي هدف ئې محض د نورو پام ځان ته جلبول او د لوړ مقام لپاره خپله وړتيا ثابتول وي او له دې لاري غواړي د حزب غړي د مشرتابه په اړه بې اعتماده او د انديښنې او پرېشانۍ اسباب ئې رامنځته کړي.

۶ – په رسمي غونډو او منظمو روزنيزو پروګرامونو کي ګډون کول خپل مهم مسئوليت وګڼي، له شرعي او معقول عذر او د اجازې له اخيستو پرته؛ ځان ته دا حق ورنکړي چي غيرحاضري وکړي، چي له امله ئې له يوې خوا بې نظمي رامنځته شي او د نظم او انضباط لړۍ کمزورې شي او له بلي خوا د نورو ورونو شوق او ذوق کمزوری او د حزب په کاري او جدي فعاليتونو کي د برخي نه اخيستو روحيه وپنځول شي، څوك چي دا کار کوي په واقعيت کي له حزب سره دښمني کوي.

د حزب د مخلصو، رښتينو او وفامنو غړو دنده دا ده چي د حزب په ټولو فعاليتونو کي په مينه، شوق او ذوق سره فعاله برخه واخلي او د نورو د تشويق وسيله وي، د دې برعکس هغه کسان چي دې مسئوليتونو ته اعتناء نه ساتي؛ ملامت ئې کړي او دي ته ئې وهڅوي چي د داسي کار له دوام او تکرار ډډه وکړي.

۷ – تل حزبي فعاليتونه په بشپړ اهتمام، صبر او حوصله ترسره کړي،

هم له بې ځایه تلوار ډډه وکړي او هم د هغو ستونزو او خنډونو په وړاندي له زغم او استقامت کار واخلي چي ورسره مخامخ کېږي، شاتګ او نهیلۍ ته تسلیم نشي، که د کوم کار پایله ژر ترلاسه نشي؛ نو زغم او هوډ له لاسه ورنکړي؛ بلکي په پرلپسې توګه او سترګیا نه منونکې هڅه وکړي، د احساساتو او جذباتو پارېدو په وخت کي باید خپل فکري توازن خوندي وساتي، په هغو شېبو کي چي د خپلو پارېدلو احساساتو په وړاندي مغلوب دئ باید قدم وړاندي کښېنږدي بلکي له سکون او آرامښت وروسته او له خپل عقل سره په مشوره مناسب اقدام وکړي.

۸ – د جهاد في سبیل الله په برخه کي یوازي ذهني توافق او د حزب اهداف، مقررات او کړنلاره منل بسنه نکوي، ذهني ډاډ او توافق په دې لار کي یوازي د لومړني ګام او پیل حیثیت لري، په بنسټیز ډول په دې لار کي د زړه په تل کي ژورو او ځواکمنو احساساتو ته اړتیا ده، هغه احساسات چي د انسان د فعالیتونو محرك شي او مخ په وړاندي ئې بوځي. د حزب دننه زموږ مهم او دروند مسئولیت همدا دئ؛ چي داسي وګړي وروزو چي له اسلام سره محبت لري، د ژوند ټولي هڅي او فعالیتونه ئې د همدې محبت پر محور وڅرخي، هیڅکله ئې په اړه اهمال او سستي ونکړي، د دین د قائمولو په لار کي مسلسل هاند او سترګیا نه منونکی جهاد د خپل ژوند تر ټولو ستر او ارزښتمن مسئولیت وګڼي، او تر ټولو غوره هڅي د همدې هدف د تحقق پر مهم کار متمرکزي کړي.

۹ – خپله اصولي او منظمه سعي او مبارزه په پرلپسې او مسلسله توګه د حزب د لمني پراخولو لپاره جاري وساتي، له بې ګټې هڅو او بې ځايه تلوار ځان وساتي، بايد له منظم، پرلپسې، تدريجي او مضبوط کار او فعاليت سره ځان عادي کړي، که دا ضرورت احساس شي چي د کوم کوچني کار ترسره کولو دنده وروسپارل شي، سره له دې چي ووړ ورته برېښي، ځرګنده ګټه او نتيجه ئې نه تر سترګو کېږي، بايد د فوري او ځرګند اجر او بدلې له طمعي او انتظار پرته؛ په پوره صبر، استقامت، شوق او په خپل ټول توان او طاقت سره د هغه سر ته رسول خپله دنده وګڼي؛ دا تصور دي نکوي چي د الله تعالى په لار کي د جهاد لپاره به د جګړي ډګر تل تود وي؛ ټوپك پر اوږه او د دښمن د مقابلې لپاره به په جبهه کي حاضر وي، هر کار پر خپل ځای او خپل وخت کي خاص ارزښت لري، همدارنګه بايد وپوهېږو چي د نفير عام له مواردو پرته لازمي نه ده چي په جهاد في سبيل الله کي د برخي اخيستو لپاره به د حزب هر غړی د جنګ په لومړۍ کرښه کي په جګړه بوخت وي؛ بلکي د جنګ د يوه محاذ رامنځته کېدو او د هغه لپاره تيارى کله کله کلونه کلونه پرلپسې مقدماتي کار ترسره کېږي، که د لښکر په سر او لومړي صف کي په سلګونو سر په تلي کي سپاهيان په جهاد لګيا وي، په سلګونو نور د جبهې تر شا د يوې کوچنۍ او ابتدايي جګړي لپاره د اړتياوو او لوازمو د برابرولو لپاره په خدمت مصروف وي، زموږ له نظره هم د تلواري وروڼو دريځ محکوم دئ او هم له وسله والي مبارزې

(قتال في سبيل الله) د منكرينو او له پايلو ئې د نهيلو وګړو مفكوره ناسمه ده. يوازي هغه چي ريښتنى او منل شوى حقيقت دئ؛ هغه شرعي، منظم، تدريجي او له شرائطو او امكاناتو سره همغږى او برابر كار دئ.

١٠ – د دې لپاره چي د حزب په اړه د ولس خواخوږي او ملاتړ ترلاسه كړى شي؛ د حزب هر وګړى مكلف دئ د ولس اعتماد، خواخوږي او رأيي راجلبولو په لار كي منظم او په پراخه پيمانه هڅه او هاند وكړي، دا اړينه نه ده چي ټول خلك د حزب غړي او اركان شي، زموږ د هدف د تحقق لپاره دا هم بسنه كوي چي اكثريت هېوادوال د نهضت په ريښتينتوب معترف وي، زموږ د اهدافو او مقاصدو صحت تصديق كړي او زموږ ښه اخلاق او غوره سلوك هغوى تر خپل اغېز لاندي راولي. د دې كار طبيعي پايله به داوي چي كله موږ په سترو سترو اجتماعي چارو لاس پوري كوو د خلكو ملاتړ او ملګرتيا به مو په برخه وي، دې هدف ته د رسېدو لپاره بايد ټول ضروري وسائل او امكانات په كار واچول شي.

١١ – نظم او انضباط ته التزام د حزبي ژوند اساسي ځانګړنه ده، په اصل كي يو حزب ځانګړي نظم ته د التزام او درناوي په نتيجه كي رامنځته كېږي، په دې برخه كي ګډ نظر او واحد هدف درلودل لومړنى او ابتدايي قدم شمېرل كېږي، د نظم د رعايتولو په كار كي ډېره كمه سستي او بې پروايي د حزب له مرګ او ختمېدو سره مترادف دئ، د

نظم د ټينګ ساتلو لپاره د دې حزب ټول وګړي مکلف دي چې خپل شخصي غوښتني او هيلي د اسلام او د حزب اسلامي د اهدافو په ګټه قرباني کړي، که هر وګړی د خپلي شخصي رايي او فکر په تحقق ټينګار وکړي او په خپلي آزادۍ او خپلواکۍ کي د نورو مداخله مناسبه ونه ګڼي بيا نو د يوه حزب جوړېدا او پايښت ناشونی دئ او که بالفرض داسي حزب منځ ته راشي هيڅکله به دوام ونه مومي.

۱۲ – د حزب په داخل کي دي د اختلافاتو له راولاړولو په کلکه ډډه وکړي او د اختلافاتو راولاړېدو په صورت کي دي د اصلاح او روغي جوړي هڅه وکړي، په هر ځای کي دي د حزب له اهدافو، سياستونو او کړنلاري په ښه طريقه دفاع وکړي او د حزب مصالحو ته دي پر خپلو شخصي مصالحو ترجيح ورکړي.

۱۳ – د ژوند په هر حال کي؛ د هوسايني او کړاو، آسانۍ او سختۍ، خفګان او خوشحالۍ په وخت کي دي د حزب د اوامرو او احکامو اطاعت وکړي او له لارښوونو سره سم دي عمل وکړي.

دا برخه درې بېلابېلي مرحلې لري:

## الف – پېژندنه:

په دې پړاو کي هڅه کېږي چي خلك او د حزب مخاطبين د حزب له مرام، ليدلوري او تګلاري خبر کړی شي، د دعوت منلو ته چمتو کړی

شي، کله له وعظ او نصيحت او کله له پراخو غونډو، جلسو او مخامخ تماسونو او ليدنو، د اسلامي کتابونو او د حزب د نشراتو له خپرولو کار اخيستل کېږي، په دې مرحله کي وروستنی هدف حزب ته د پلويانو پيدا کول دي؛ چي بيا په راتلونکي کي د ژمنو غړو په توګه د حزب په سنګر کي مبارزه وکړي. د حزب د جوړښت په دې برخه کي هر هغه څوك شاملېدی شي چي د دعوت منلو او د حزب د اصولو په وړاندي تعهد او التزام ته چمتو والی ښيي، او د حزب د اهدافو د تحقق په لار کي د خپل وخت او زيار يوه برخه ځانګړې کوي، په دې ډول شموليت کي بشپړ اطاعت لازمي نه دئ، خو د حزب اساسي اصولو او نظم ته درناوی لازمي دئ.

## ب- جوړښت:

د جهاد د ګران او ستر مسئوليت قبلولو لپاره د نېکو او استعداد لرونکو کسانو انتخاب او بيا له اړينو او ضروري آزموينو وروسته په منظمو او کوټلو ليکو کي د دوی تنظيمول؛ د دې مرحلې هدف تشکيلوي. څرنګه چي دا حزب له معنوي پلوه داسي خوځښت دئ چي معنويت او روحانيت ئې بنسټ دئ؛ له عملي پلوه يو داسي بشپړ نظامي تنظيم دئ چي اطاعت او نظم ئې اساسي غوښتني دي، ځکه نو په دواړو برخو کي د دې حزب د کار طريقه ايجابوي چي غړي به ئې علاوه پر دې چي د حزب لارښوونو او اوامرو ته په کامله توګه غاړه ږدي بايد د نفس

د تزکيې لپاره له معنوي پلوه وروزل شي.

د حزب په دې پړاو کي په ځانګړې توګه هغه کسان شامليږي چي د کافي جد و جهد استعداد او وړتيا ولري، دا جد و جهد ډېر پر له پسې او سترړيا نه منونکی، له کړاوونو ډك او د ډېرو درنو مسئوليتونو حامل دئ. هغه وړتياوي چي د دې درانه مسئوليت د قبلولو لپاره ضروري دي د (اطاعت) عنصر ئې بنيادي او مهم جزء دئ.

## ج – تنفيذ:

په دې مرحله کي د هدف د تحقق لپاره هڅي په داسي پرلپسې او نه ستړي کېدونکي جهاد بدلېږي چي په هغه کي هيڅ ډول اغفال او اهمال ته مجال نشته، دا د داسي آزمېښت او امتحان مرحله ده چي يوازي ريښتيني او مخلص غړي کولی شي په برياليتوب سره ترې ووځي. په دې مرحله کي هم يوازي د بشپړ اطاعت روحيه کولی شي د موفقيت او برياليتوب ضامن وي.

د حزب د غړو مسئوليت ايجابوي چي په دې حزب کي له شموليت وروسته؛ د حزب په وړاندي د خپلو تعهداتو او ژمنو بشپړ مراعاتولو سعي وکړي، له لومړۍ مرحلې دوهمي ته ارتقاء وکړي او په تدريج سره دريېيمي مرحلې ته نږدې شي.

۱۴ – د لاندي پوړ غړي بايد د لوړ پوړو غړو او مشرانو د اهليت او

اخلاص په اړه داسي ډاډه واوسي چي په نتیجه کي ئې د دوی تر منځ مینه، درناوی او مننه رامنځته شي، باید متوجه اوسي چي د قیادت شتون او د هغه اطاعت د هر دعوتي ډلي او د هغې د بریا اساسي او مهم عنصر دئ، له مشرتابه او د هغه له اطاعت پرته هیڅکله یو منظم حزب نشي رامنځته کېدی، د لښکر او سرلښکر تر منځ ګډ او یو پر بل اعتماد د لښکر بریا تضمینوي، له همدې د یوه حزب نظام مضبوطېږي او هدف ته د رسیدو امکان په لاس ورځي. پر موږ ده چي د حزب د مضبوطیا او پراختیا لپاره د زړه له تل ژمنه وکړو چي د حزب د احکامو او لارښوونو اطاعت به کوو.

د مشرتابه ارکان باید د حزب له نورو غړو سره د اخلاص، میني او پېرزویني داسي اړیکي ولري لکه د زړه سواند پلار اړیکي له اولاد سره، د ښووني او روزني له پلوه داسي لکه یو پوه او باتجربه استاد او ښوونکی، او د روحي روزني په برخه کي داسي لکه یو متقي روحاني مرشد؛ او د حزب ښه تنظیم او وړاندي بېولو، او د حزب منصوبو او سیاستونو عملي کولو ته ئې توجه او پاملرنه داسي وي لکه یو ځېرك سیاسي مشر چي په بشپړ لرلید سره د حزب د پیاوړتیا په لار کي هاند او هڅه کوي. د هر فکري نهضت د بریا لپاره پر مشرتابه باور تر ټولو ستر او اساسي عامل دئ. د باور یا اعتماد په مفهوم د پوهېدو لپاره اړینه ده چي زموږ وروڼه له ځانه دا پوښتني وکړي:

الف – آیا د حزب له مشرانو سره لومړنۍ پېژندګلوي لري او د هغوی د ژوند بېلابېل پړاوونه ئې مطالعه کړي دي؟

ب – آیا د حزب د مشرتابه په وړتیا او اهلیت باوري دئ؟

ج – آیا چمتو دئ د مشرتابه لارښووني او اوامرو له کوم شك او تردید پرته او په پرېکنده توګه ومني؟ او آیا چمتو دئ مشرانو ته د مخلص او خواخوږي په توګه نېکي مشورې، غوره تجویزونه او ښه وړاندیزونه ورکړي او هغوی د خپلو خطاګانو او تېروتنو په اړه متنبه کړي؟

د – د ورځنیو پېښو په اړه او د اجتهادي مسائلو په برخه کي که چېري د ده شخصي نظر او رأیه د حزب د مشرتابه له پرېکړو او لارښوونو سره موافقه نه وي؛ آیا په دې صورت کي چمتو دئ خپل شخصي نظر ناقص او غلط وګڼي او د مشرتابه مقاماتو پرېکړه صحیح او سمه وبولي.

د پورتنیو پوښتنو د ځوابونو په رڼا کي د حزب هر غړی کولی شي د مشرتابه په اړه د خپل اعتماد معیار مشخص کړي.

## څلورم – ټولنیز مسئولیتونه:

د اسلامي ټولني جوړونه او د ټولنیز ژوند په بېلابېلو اړخونو کي د شریعت اقامه؛ د مؤمنو وګړو د فعالیتونو عملي نصب العین او موخه ده، په دې برخه کي د حزب اسلامي غړي لاندیني مسئولیتونه پر غاړه لري:

١ – د ټولني اصلاح او لارښوونه؛ له فساد، بديو او فجائعو سره مبارزه، د نېکيو او فضائلو خپراوی، د ښېګڼو او نېکيو لوري ته د خلکو رابلل، د ښو کارونو په ترسره کولو کي سيالي او د خلکو د ژوند په ټولو اړخونو کي د اسلامي تعليماتو د عملي کولو په لار کي سعي او مجاهدت.

٢ – له ټولني د نالوستوب او بېسوادۍ ختمولو لپاره زموږ لوستي او پوه ملګري مکلف دي د خپلي وسي او توان په اندازه يو شمېر هغه نالوستي وګړي تر روزني لاندي ونيسي چي له اخلاقي پلوه په نسبي توګه په حزب کي د شاملېدو وړتيا لري، د هغوی د روزني د بهير لګښت پر خپله غاړه واخلي، د وخت د ټاکلو په چاره کي هم دا رعايت کړي چي هغوی ته زياتي آسانتياوي برابري شي، د ځای برابرولو دنده د هغوی پر غاړه وانه چول شي، بلکي په خپله دا شرائط برابر کړي. د روزني په جريان کي نه يوازي دا چي هغوی له خپلو افکارو او نظرياتو اغيزمن کړي بلکي بايد له هغوی سره د ورورګلوۍ، برابرۍ، خواخوږۍ او پېرزويني داسي چلن غوره کړي چي د زړه له تل د حزب مينان شي، په غم او مصيبت کي ورسره شريك شي، په هر کړاو، تکليف او اړتيا حالت کي ئې د خپل وس او توان په اندازه مرسته وکړي او يا لږ تر لږه د خواخوږۍ څرګندونه وکړي، په خپل اخلاقي چلن سره هغوی ته جوته کړئ چي تاسو له هغوی د هيڅ ډول پورته والی او امتياز احساس نه کوئ، هغه کبر او وياړ چي با سواده طبقه او لوستي ئې د عامو خلکو په نسبت کوي؛ ستاسو د شخصيت په جوړښت کي بايد د هغوی هيڅ څرك

ترسترګو نشي، د هغوی د نواقصو او نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره په ډېري ريښتيني او مخلصانه توګه هڅه وکړئ او د ځان کم او ټيټ ګڼلو هغه احساس چي د خراب اقتصادي وضعيت، ناپوهۍ او د ټولني فاسد او ګنده اخلاقي حالت له کبله په دوی کي رامنځته شوی له منځه يوسئ، او د هغوی په ضمير کي د انساني عظمت هغه شعور ځای ونيسي چي د اسلام او ايمان پر بنسټ ولاړ وي. او بيا د دوی په زړه او دماغ کي دا صفا ذهنيت او حقيقي انګېرنه مستقر شي چي د ټولني ټولي اقتصادي ستونزي، ذهني پرېشانۍ او اقتصادي مشکلات د اوسني کاذب او غيرانساني مدنيت د تسلط له کبله رامنځته شوي، او دا ټول د درملني او علاج يوازي يوه لار لري او هغه دا چي د ژوندانه نظام د اسلامي لارښوونو پربنسټ قائم شي.

۳ – د هېواد دننه د ټولو اسلامپالو ځواکونو او شخصيتونو ترمنځ د يووالي او د دوی خپلمنځيو فرعي اختلافاتو له منځه وړلو لپاره هلي ځلي، په دې اړه د حزب د غړو مسئوليت دا ايجابوي چي له بېلابېلو ډلو او اسلامي ټولنو سره په چلن کي له زيات احتياط کار واخيستل شي. د هغوی په اړه په پټه او ښکاره؛ له پېغور، ټوکو، کم ګڼلو او سپکاوي ډډه وشي، د حريف په سترګه ورته ونه کتل شي او د ماتي او سپکاوي په لټه کي ئې ونه اوسي. د داسي غلط چلن اصلي وجه دا وي چي زموږ ورونه د نورو په اړه داسي انګيري چي هغوی ولي هغه حقائق نشي درک کولی چي موږ درک کړي؛ يا دوی د دغو حقائقو د تحقق په لار کي د

پرله پسې مبارزې هغه همت او زړه ورتیا نلري چي موږ ئې لرو، همدا انګېرنه چي نور ولي د څرګندو حقائقو له درك کولو عاجز دي؛ کله کله د انسان په ضمیر کي د لوړوالي او غرور احساس راپنځوي، نور د سزا او ملامتیا وړ ګڼي، او لکه غصه ناك او قهرجن ښوونکی چي زده کوونکي په هره غلطۍ او تېروتني ګواښي، دی هم نوري ډلي او خلك چي له ده او د ده له حزب سره په یوه لار روان نه دي د رټلو وړ بولي او په اړه ئې قهرجن او غضبناك سلوك غوره کوي.

د نورو اسلامي ډلو په اړه د دې حزب کړنلاره او سیاست پر انعطاف، زړه سوي، خواخوږي او د ورورګلوۍ پر احساس ولاړ دئ، له تېري، سپکاوي، شخړو او لانجو ډډه کوو، او ځان ته حق نه ورکوو چي د دوی په خلاف ناروا او ناجائز تبلیغات وکړو او په مقابل کي ئې داسي دریځ ونیسو چي زموږ تر منځ د فاصلې په زیاتوالي او بېلتون منتج شي او نه پخلا کېدونکې دښمني وزېږوي. دا سمه ده چي د وضعیت او شرائطو په اړه زموږ تشخیص او د دندي او مسئولیت په اړه زموږ درك او احساس پر حقائقو ولاړ دئ او ډېری خلك د حق د درك کولو له سعادت او د خپلي دندي او مسئولیت د پېژندني له نعمت بې برخي او محروم دي، خو له دې سره سره دا جائز نه بولو چي د نورو په اړه له تکبر، غرور، بې رحمۍ او قساوت کار واخلو. له هغوی سره زموږ چلن باید داسي نه وي چي له ځان ئې وشړو، بلکي په کار ده چي په سمه او معقوله طریقه ئې د نهضت د کړنلاري پر معقولیت قانع او د حزب د

اهدافو او تګلارو پر سموالی او حقانيت ئې باوري کړو. د دې معنی دا نه ده چي موږ به هغه خرافات نه غندو چي نور پرې باور لري، هغه غلط افکار به نه په ګوته کوو چي له ديني لارښوونو او ارزښتونو سره تعارض لري، خو ځيني ئې دين ته منسوبوي، موږ له خرافاتو، غلطو افکارو او ناسمو عقائدو سره روغه جوړه نه کوو، کرکه ترې لرو او په وړاندي ئې سکوت نه کوو، خو دا کرکه مو د هغو په اړه له عطوفت او زړه سوي مانع کېږي نه چي غلط شوي او پرې باور لري، دوی حقائقو ته متوجه کوو او له غلکو افکارو او ناسمو عقائدو ئې د راګرځولو هڅه کوو.

۴ – د پرديو له تسلط او نفوذ د هېواد د نجات لپاره پرله پسې او تلنۍ مبارزه، که دا تسلط سياسي وي او که اقتصادي، که کلتوري وي او يا که عقيدوي او فکري.

۵ – د فاسدو حکومتونو د اصلاح لپاره د زړه له تل منظمي هڅي، او د غيراسلامي او بې دينه رژيمونو د نسکورولو لپاره جدي او پرلپسې مبارزه او له هغو نظامونو او حکومتونو سره ريښتنې او مخلصانه همکاري چي د اسلام د حاکميت لپاره کار کوي، بايد دې ته مو پام وي چي يو حکومت هغه مهال کولی شي اسلامي بڼه غوره کړي چي غړي او کار کوونکي ئې مسلمانان وي، خپل مسئوليتونه او ديني فرائض ترسره کړي، په عملي توګه له اسلامي احکامو سرغړونه ونکړي او د دې تر

ځنګ د حکومت کړنلاري او سياستونه پر لاندينيو موادو ولاړ وي:

الف – د اسلامي شريعت د پلي کېدا لپاره هڅه.

ب – د ولس په وړاندي د مسئوليت احساس، له خلکو سره په چلن کي رحمت او زړه سوی، د امنيت تأمينول او د خلکو له سر، عزت او مال دفاع کول.

ج – د عدل او انصاف رعايتول او په ملي شتمنيو کي له ناروا تصرف ځان ساتل.

د – د اخلاقي فضائلو عامول، د اسلامي دعوت پراخول او له فساد او بدکاريو سره مبارزه.

هر کله چي کوم حکومت دا مسئوليتونه ترسره کړي؛ ټول با ايمان وګړي مکلف دي په ټول ځواك او د سر او مال په بيع مرسته ورسره وکړي او له پايښت ئې دفاع وکړي. کله چي د خپلو مسئوليتونو او دندو په ترسره کولو کي سستي وکړي؛ لومړی بايد د اصلاح لپاره ئې له ارشاد، نصيحت او لارښووني کار واخيستل شي؛ خو که اصلاح نه شي نو په کار ده چي د صالح، نېکو او با ايمان وګړو ټول توان او ځواك د هغوی د عزل لپاره وکارول شي.

هـ – د محکومو اسلامي هېوادو د آزادۍ لپاره هڅه او مبارزه، د مسلمان امت د تېر عظمت بيا احياء، د اسلامي کلتور او تهذيب بيا راژوندي کول، د امت د خپلواك سياسي شتون تأمينول او د اسلامي

خلافت د جوړېدو په لار کې هڅه او هاند.

٧ – په ټوله نړۍ کې د اسلامي دعوت خپرول او د اسلامي ارزښتناکو او نجات بخښونکو تعلیماتو د عملي منلو په لوري د بشریت لارښوونه، په ټوله نړۍ کې د اعلای کلمة الله لپاره مسلسله هڅه او هاند.

٨ – په ګرده نړۍ کې د ټولو اسلامي ځواکونو د بشپړ یووالي په لار کې نه ستومانه کېدونکې هڅې.

که څه هم د (٣، ۴، ۵، ۶، ٧، ٨) مادو د عملي کولو مسئولیت په ټولیزه توګه د حزب په غاړه دئ، خو په انفرادي توګه هم هر غړی دنده لري چې د حزب له اصولو او مقرراتو سره سم د خپل وس او توان تر پولې د دې مهمو کارونو په ترسره کولو کې سعي وکړي. که څه هم دې سترو سترو اهدافو ته د رسېدو هڅه او دا درانه مسئولیتونه په بشپړه توګه اداء کول؛ مؤمن وګړي له داسې سختو ستونزو او کړاوونو سره مخامخوي چې له هغوی په بریا سره تېرېدل؛ د بې ایمان او بې ارادې انسانانو له نظره خوب او خیال برېښي، خو هغه هوډمن او مؤمن مبارزین چې متکاء ئې د الله تعالی مرسته او نصرت دئ، د الله تعالی پر حمایت تکیه او حساب کوي او د مخلوقاتو د پالونکي رب له وسیع رحمت پېرزوینو ناهیلي او مأیوس نه دي؛ د هغې ورځې رارسېدل حقیقت ګڼي چې د اسلام عزتمن بیرغ په بریا سره رپانده شي.

وَاللّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَـكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ* یوسف: ٢٢

او الله پر خپل کار برلاسی دئ خو ډېری خلك نه پوهېږي.

# د شورى د غړو مسئوليتونه

د شورى هر غړی برسېره پر دې چي د حزب د غړي په توګه د غړي د مسئوليتونو ټول مواد ورته متوجه دي؛ دا لاندي مسئوليتونه هم پر غاړه لري:

١ – د الله تعالى د احکامو اطاعت او د پيغمبر صلى الله عليه و سلم په لارښوونو عمل تر بل هر څه مقدم وګڼي.

٢ – د يوه ژمن او متعهد مسلمان په صفت د حزب د اصولو او مقرراتو تابع وي، د هغوی غوښتنو ته التزام ولري او دغو مقرراتو ته د ده التزام او د خپلو وجائبو او مسئوليتونو اداء کولو ته د ده اهتمام بايد د نورو غړو په تناسب ځانګړی توپير ولري.

٣ – له شرعي عذر پرته د شورى په ټولو غونډو کي ګډون وکړي.

٤ – د هغو ټولو موضوعاتو په اړه چي د شورى په غونډو کي مطرح کېږي خپله ريښتنې رأيه او نظر د خپل ايمان او وجدان په حکم او له خپل فهم سره سم ښکاره کړي او په دې برخه کي له اسلامي لارښوونو او ارزښتنونو او د حزب له خير او مصلحت پرته بل هيڅ شي ته ارزښت

ورنکړي.

۵ – د حزب دننه له بېلو او مستقلو ډلبنديو په کلکله ډډه وکړي.

۶ – که د کار په جريان او يا د حزب په تنظيمي چارو کي نقص او نيمګړتيا ووينې په صداقت او بشپړ اخلاص سره د هغې په لري کولو او اصلاح کي د زړه له اخلاصه هڅه وکړي.

۷ – د دې لپاره چي د حزب په اړوند مسائلو کي شرعي نظر وړاندي کړی شي او حزب په سم لوري بوځي؛ بايد د اسلامي معلوماتو حاصلولو، د قرآن مجيد تلاوت او د احاديثو لوستلو ته اهتمام وکړي او د مخکنيو او اوسنيو اسلامي ډلو او حزبونو په اړه کافي معلومات ترلاسه کړي.

۸ – د حزب د سالمي لارښووني په اړه د مسئوليت احساس وکړي، له اهمال او غفلت په کلکه ډډه وکړي.

۹ – هغه ستونزي او خنډونه چي د حزب په وړاندي رامنځته شوي او يا په راتلونکي کي ئې د رامنځته کېدو احتمال وي د هغوی د رفع کولو لپاره دي غوره تدابير، منصوبې او وړانديزونه د شوری غونډې ته وړاندي کړي، خو په هيڅ صورت کي دي دا حق ځانته نه ورکوي چي د شوری له پرېکړي دمخه د خپل شخصي نظر په ګټه د حزب د غړو په ليکو کي فعاليت وکړي.

۱۰ – که د شوری په غونډو کي د تصميم نيوني پرمهال ونکړی شي داسي نظر وړاندي کړي چي د غونډې د نورو غړو موافقه جلب کړي او

يا د شورى پرېکړه د هغه د شخصي نظر په خلاف صادره شي بايد په خپلو شخصي نظرياتو له بې ځايه ټينګار ډډه وکړي، د خپل شخصي نظر په ګټه د فعاليت له دوام ځان وساتي، په ځانګړې توګه د حزب د نورو غړو په منځ کي د هغې له مطرح کولو په بشپړ ډول ډډه وکړي، ځان مکلف وګڼي چي د تصويب شوي نظر له معقوليت دفاع وکړي او خپل شخصي نظرونه پرېږدي.

١١ – د شورى غړي لومړني کسان دي چي د شورى د پرېکړو د عملي کولو په اړه تر نورو وړاندي او زيات مسئوليت پر غاړه لري.

١٢ – هغه پايلي او نتائج چي د شورى پر رسمي پرېکړو او تصميمونو مرتب کېږي؛ د هغوى په مسئوليت کي ځان شريك وګڼي، او د عواقبو مسئوليت ئې هغو کسانو ته متوجه نکړي چي د رأى او طرحي لومړني وړاندي کوونکو ول، او يا ئې په اړه مثبت نظر ورکړى؛ بلکي د مسئول غړي په صفت د حزب د پرېکړو د پايلو په وړاندي په ګډه د مسئوليت احساس وکړي.

١٣ – د شورى غړي د حزب د مشرتابه پلاوي د غړو په توګه دنده لري چي د حزب د کړنلاري پر صحت او معقوليت پوره باور ولري؛ او له هر ډول شك او تردد پرته د حزب د تصاميمو او پرېکړو د عملي کېدو لپاره د زړه له کومي او په بشپړ شوق، ذوق او په ټينګ هوډ په کار بوخت اوسي، هره شېبه او د هر چا په وړاندي د هغې له معقوليت دفاع

وکړي، حق نلري داسي دريځونه غوره کړي چي تعبير او معنی ئې د حزب له کړنلاري سره مخالفت وي او د حزب منسوبين احساس کړي چي د شوری دا غړي د حزب د کړنلاري او پرېکړو په اړه ډاډمن نه دي. داسي غلط دريځ او ناسم چلن د غړو د اندېښنې او پريشانۍ اسباب برابروي او د دوی پر هغو فعاليتونو بد اغېز کوي چي د پرېکړو د عملي کولو لپاره ئې کوي؛ له خپل کار سره د دوی مينه او شوق له منځه وړي.

۱۴ – د شوری په غونډو کي د غونډې آداب رعايت کړي، له تاوتريخوالي، په تونده لهجه خبرو، بې نظميو، بې ځايه چيغو، د غونډې د اجندا نه مراعاتولو، بې ربطو بحثونو، د وخت له ضايع کولو، د نوبت او ترتيب نه مراعتولو، له شخړو او مخاصمانه دريځونو غوره کولو، د نورو د وړانديزونو او نظرياتو له بې ارزښت تلقي کولو او په خپلو شخصي نظرياتو له بېځايه ټينګار په کلکه ځان وساتي.

۱۵ – د شوری د سري (پټو) غونډو رازونه دي د امانت په توګه خوندي وساتي، هيڅوك حق نلري چي د شوری د غونډې په جريان پوري اړوند مسائل نورو ته بيان کړي، د شورا د غونډو رازونه په لاندي تفصيل سره خُلاصه کېږي:

الف – هغه تصاميم چي د شوری غونډه نه غواړي نور وګړي ترې خبر شي.

ب – هغه اختلافات او لانجمن بحثونه چي د غونډې په جريان کي

رامنځته کېږي.

ج – د شورى د هغه شمېر غړو نظرونه او وړانديزونه چې نه غواړي د حزب عام منسوبين ترې خبر شي.

۱۶ – د شورى غړي دي په خپلمنځيو اړيکو کي د اسلامي اخلاقو بشپړي بېلګي تمثيل کړي او هڅه دي وکړي چې د نظر او عمل يووالى وساتل شي؛ يو د بل پر ضد له دريځ نيوني او خصومت په ټينګه ډډه وکړي.

۱۷ – کله چې د مجلس يو غړى محسوس کړي د ده دريځونه او موضع نيوني د شورى په غونډو کي د اختلاف پيدا کېدو لامل ګرځي او دى نشي کولى خپل چلن او سلوك بدل کړي؛ نو په دې صورت غوره دا ده چې د حزب مصالحو او راتلونکي ته درناوي او احترام لپاره د شورى له غړيتوب تېر شي.

۱۸ – د شورى غړي د مؤکدو سنتو د اداء کولو ترحده مکلفيت لري؛ چې د نه مراعات، غفلت او اهمال په صورت کي د حزب د مرکزي شورى د غړيتوب وړتيا له لاسه ورکوي، د تهجد د لمانځه د اداء کولو توصيه ورته کېږي؛ ځکه چې د قرآن عظيم الشأن د وينا له مخي د تهجد د لمانځه وخت د سم تفکر، صحيح فهم او سالمي پوهي تر ټولو ښه فرصت دئ.

۱۹ – د شورى هر غړى مکلف دئ چې د حزب له تبليغاتي کړنلاري او روزنيز منصوبې سره سم د حزب د سياسي موقف، اهدافو، تګلاري، او د

حزب د مشرتابه د صداقت او اخلاص په اړه د حزب د غړو اعتماد راجلب او له حزب سره جدي ملتيا او همکارۍ ته ئې دعوت کړي، د خپلو فعاليتونو نتائج دي د دعوت او تنظيم اړوند څانګي ته وسپاري.

٢٠ – د شورئ د غړو معنوي او اخلاقي لوړوالی بايد د حزب د نورو غړو په پرتله روښانه او څرګند وي.

# د حزب د امیر او ماتحتو آمرانو مسئولیتونه

که څه هم د حزب د امیر او ما تحتو آمرانو په اړه د غړي د مسئولیتونو ټول مواد په ټینګه او پراخه پیمانه مطرح دي؛ پر دې برسېره لاندي مسئولیتونه هم پر غاړه لري:

۱ – د حزب اصول او مقررات به محترم ګڼي او د هغو صلاحیتونو په محدوده کي به کار کوي چي په اساسنامه کي توضیح شوي.

امیر چي د خپل عملي شخصیت په بېلابېلو اړخونو کي د حزب د اصولو او سیاستونو ممثل دئ؛ د شرعي حدودو، احکامو، وجائبو او مستحباتو مراعاتولو ته باید دقیقه پاملرنه ولري، د دې لپاره چي هغه د ټول حزب استازیتوب کوي؛ باید اخلاق، کړني، لیدني کتني، د کار څرنګوالی او له نورو سره د چلن اسلوب ئې باید داسي وي چي د مسلمانانو د اعتماد وړ وګرځي او هغوی ډاډمن کړي چي حزب په مجموع کي د دین د قائمولو او د اعلای کلمة الله په مقصد لاس په کار شوی، شخصي اهداف، مادي اغراض او مطامع ئې د فعالیتونو محور نه دئ.

۲ – له ګناه او ناروا که هغه د حزب دننه وي او که ترې بهر په کلکه د

ځورېدو احساس وکړي، له ګناه او فساد سره د مبارزې په برخه کي له تساهل او بې پروايۍ کار وانخلي او په وړاندي ئې سکوت ونه کړي او تسليم نشي.

۳ – امير بايد په فداکارۍ او قربانۍ، شجاعت او زړه ورتيا، زهد او تقوی، سعي او مجاهدت، عدل او انصاف، اخلاص او صداقت او په ټولو هغو مواصفاتو کي چي د مؤمنانو له شأن سره ښايي؛ د حزب د ټولو غړو په پرتله وړاندي وي.

۴ – عدالت او انصاف هم د خپل ځان او هم د حزب د نورو غړو په حق کي په ډېر احتياط او دقت سره مراعات کړي، ډېره کوچنۍ نابرابري او بې عدالتي په ځانګړې توګه د حزب دننه ونه زغمي. له هيچا سره ئې د شخصي ملګرتياوو او قومي او محلي اړيکو پر بنسټ خاص تعلق نه وي او له کبله ئې د غړو تر منځ توپير ونه کړي، د ناروا او ناجائزو ډلبنديو له رامنځته کولو ځان وساتي، په ځانګړې توګه له هغو کړنو په کلکه ډډه وکړي چي په نورو غړو کي د تشويش او اندېښنو باعث کېږي او د ډلبنديو او تفرق احساس پاروي.

۵ – د اسلامي نهضت شتون، پايښت او بريا په هغو اصولو، قواعدو، مقرراتو، تګلارو او کړنلارو پوري تړلی دئ چي د دې نهضت مزاج او طبيعت ئې غوښتنه کوي، د دې سننو او طريقو له سم او اصولي درک پرته، او د هغوی له بشپړ، هر اړخيز او قطعی مراعات پرته د اسلامي

نهضت شتون، پایښت او بریا امکان نه لري، د نهضت د بریا لپاره لازمه ده چي د حزب امیر او ماتحت آمران د حزب اسلامي لوازم او مقتضیات او هغه اصول چي الله تعالی د هغه لپاره وضع کړي په ښه توګه وپېژني او په رڼا کي ئې د حزب مدیریت او لارښووني ته راوړاندي شي.

۶ – د حزب د دریځ، سیاست، تګلاري او کړنلاري پر سموالي او معقولیت په بشپړ ډول او د زړه له تل باوري وي، په دې اړه له بشپړ یقین وروسته خپل کار پیل کړي، د ذهنیتونو فشار او د دې او هغه غوښتني ئې کوم ناسم تصمیم ته اړ نه کړي او داسي څه ونه کړي چي د حزب مصالح تر پښو لاندي شي.

۷ – منظم کار ته ډېره او جدي پاملرنه ولري، له خپلسریو، ګډوډیو او بې نظمیو سره جوړجاړی ونه کړي، هم پخپله او هم د حزب نور کار کوونکي دي ته اړ باسي چي د نظم، پولو او صلاحیتونو د رعایت په محدوده کي خپلو کارونو ته ادامه ورکړي.

۸ – د حزب د غړو په اړه کافي، مفصل او موثق معلومات ترلاسه کړي، د هغوی له کړنو، اخلاقو او وړتیاوو ځان خبر کړي، چي وکولی شي مستعد، د وړتیاوو خاوند او بریالي شخصیتونه پر دندو وګماري، د اشخاصو د انتخاب او ټاکلو په برخه کي ئې دي ته پام وي چي یوازي د اهلیت، تقوی، اخلاص او فداکارۍ مواصفات معتبر او د اعتناء وړ وګڼي، د چا خوله ورتوب، تملق، او غوړه مالیو ته اعتناء ونه کړي، داسي

همکاران ونه ټاکي چي په ښو او بدو، حق او باطل کي د ده اوامرو ته غاړه ږدي، په اصطلاح د امير رضاء ته د خپل رب او پالونکي پر رضاء ترجيح ورکوي.

۹ – د حزب د کار کوونکو له استعدادونو او ظرفيتونو د ښه کار اخيستلو چارو ته جدي پاملرنه وکړي، له يوې خوا پرې نږدي د حزب غړي بې حرکته، غيرفعال او د رکود او جمود په حال کي وي او له بلي خوا له هر چا په مناسبه برخه کي کار واخلي او پرې نږدي داسي شرائط رامنځته شي چي د حزب غړي د حزبي فعاليتونو په اړه خپل نشاط او شور او شوق له لاسه ورکړي او له حزب سره ئې اړيکي کمزورې شي.

۱۰ – د حزب د غړو اعتراضونه، نيوکي، ګيلې او شکايتونه دي په غور سره واوري، قناعت بخښونکي ځوابونه دي وړاندي کړي، د هغوی سالم او شرعي اعتراضات دي ومني، د دې کار له کبله دي هغوی وستايي او صحيح او پرځای شکايتونه دې رفع کړي.

۱۱ – هغه سوء تفاهم، تشويشونه او انديښنې چي د وروڼو په منځ کي راولاړېږي؛ د هغوی د لري کولو لپاره دي جدي، فوري او اعظمي سعي وکړي او په دې ارتباط دي بې پروايي او اهمال نه کوي چي د غړو ترمنځ اعتماد او باور احياء او د غلط فهميو ټغر ژر تر ژره ټول شي.

۱۲ – د هغو لفظي اختلافاتو او شخړو په اړه بايد بې پروايي او اهمال ونکړي چي د حزب د غړو په منځ کي راپيدا کېږي، بلکي په ټينګه د

مسئوليت احساس وکړي او دي ته ئې پام وي چي د ده د بې پروايۍ له کبله متنازع فيه مسائل د اختلافاتو د زياتېدو باعث نشي او خبره يو له بل ببېلېدو او تجزيې ته ونه رسېږي.

۱۳ – د حزب د دعوت لړۍ او کړنلاره بايد داسي ترتيب شي چي بلنه د هدف او نصب العين په لوري وي نه د مشرانو د شخصيت په لوري، اساساً له حزب سره اړيکي بايد په داسي ټينګو او مضبوطو مزو تړل شوې وي چي پايښت او دوام ئې ثابت او تضمين شوی وي؛ نه په سستو او موقتي مزو. که د دعوت په سرليك کي سپېڅلو اهدافو او موخو ته اهتمام وشي او مخاطبين دې لوري ته راوبلل شي؛ او د همدې له مخي له حزب سره تعهد وکړي؛ نو که شخصيتونه تعويض هم شي او په تنظيم کي بدلون او تغيير هم راشي؛ له حزب سره به د دوی د اړيکو مزي نه شلېږي او په خپل قوت سره به دوام مومي. د اسلامي نهضت تر ټولو مهم هدف او د له دې سره سم د اسلامي تحريك د مشرانو اساسي دنده او مسئوليت په حقيقت کي د الله تعالی د بندګۍ لوري ته د خلکو رابلل او د الله تعالی د دين قائمول دي، د دې درونډ هدف د تحقق لپاره لازمه ده چي ټول فعاليتونه، هڅي او هاند او ټولي اړيکي د دې سپيڅلي هدف پر محور راوڅرخي. او دعوتګران د همدې ستر هدف د تحقق لپاره خپل الهي مسئوليتونه اداء کړي او په دې برخه کي خپلي مخلصانه او صميمانه هڅې ونه سپموي.

۱۴ – د حزب د غړو د روزني په کار کي باید خاصه او جدي توجه او ډېره هڅه وکړي؛ په دې برخه کي د ده ونډه باید تر ټولو زیاته وي.

۱۵ – د شورى او نورو غونډو د مشرۍ په وخت کي باید دې ته متوجه وي چي غونډې د ورورۍ او صمیمیت په فضا کي پای ومومي او ګټوري او مثبتي پایلي پرې مرتب شي. باید د وخت له ضایع کېدو، له بې ربطو او د اجندا خلاف بحثونو، بې نظمیو، ګډوډیو او د غونډې د غړو په منځ کي د کینې او دښمنیو راپیدا کېدو مخنیوی وکړي، باید بحثونه په منظمه او ګټوره بڼه دوام وکړي، هر غړي ته دا فرصت ورکړی شي چي خپل نظر په ډاډمنه توګه او مساعده فضاء کي وړاندي کړي او د خپلو وړاندیزونو او نظریاتو د معقولیت دلائل ووایي، باید هڅه وشي چي د هیڅا نظر بې ارزښته ونه ګڼل شي.

د دې مطلب ترلاسه کولو لپاره د دغو ټکو مراعات ډېر ضروري دئ:

الف – د غونډې اجندا د اجرائیه کمیټې په مرسته ترتیب او په اړه ئې له پوره غور او دقت وروسته؛ د اساسنامې له موادو سره سم د شورى غړي ترې خبر کړی شي، بیا په ټاکلي وخت؛ په هري موضوع بېل بېل او په خپل خپل نوبت او په ترتیب سره بحث وشي، لومړی د حزب امیر، بیا د اجرائیه کمیټې نور غړي د خپلو وړاندیزونو د معقولیت دلائل وړاندي کړي، بیا بحث پرې پیل شي او مناسب تصامیم ونیول شي.

ب – د نظریاتو د وړاندي کولو په جریان کي د غونډي د غړو د لفظي شخړو مخه ونیسي، او کله چي وګوري د یوه غړي د خبرو دوام په شخړي او خصومت منتج کېږي، مخنیوی ئې وکړي؛ بحث او مناقشه مهار او غونډي ته لازمي او مناسبي لارښووني وکړي.

ج – د ویناوو د نوبت ترتیب دي مراعات او د غړو د ویناوو لپاره دي له وړاندي مناسبه اندازه وخت وټاکي.

د – کله چي احساس کړي د غونډي حالت په زړه پوري نه دئ، نو د غونډي د برخه والو په مشوره دي د بحث پای اعلان او بل وخت دي د بحث او خبرو لپاره وټاکي، د فراغت په همدې موده کي باید داسي اقدامات وشي او دا شرائط برابر کړی شي چي د غونډي بیا دائرېدو په صورت کي مخکنۍ ستونزي له منځه تللې او په بشپړ ډول ډاډمنه او په زړه پوري فضا رامنځته شوې وي.

۱۶ – د شوری د غړو د بشپړي او صادقانه همکاریو جلبولو لپاره دي تر ممکنه حده هڅه وکړي، خو که امیر محسوس کړي چي د شوری غړي په اخلاص سره د ده ملګرتیا او ملتیا ته چمتو نه دي او دی هم په دې قادر نه دئ چي د دوی باور او ملتیا ترلاسه کړي، نو بیا پر امیر ده چي د حزب راتلونکي ته د احترام او درناوي په حکم له خپلي دندي مستعفي شي او تر دې وړاندي چي حزب له رکود سره مخ شي پرېږدي چي شوری بل څوك د دې دندي لپاره غوره کړي، د حزب د رکود په اړه د

نورو وګړو د عدم همکاریو دلیل نشي کولی ده ته برائت ورکړي.

# پای

تاسو اې سر په تلي کي سرښندونکو!

تاسو اې ایمان لرونکو جنګیالیو!

او تاسو اې د حق لاري لارویانو!

په پوره یقین سره وپوهېږئ چي د دغو شرائطو په رعایت سره د هغي قافلې په صف کي د ودرېدو افتخار ترلاسه کوئ چي د اسلام محبوب پیغمبر صلی الله علیه و سلم ئې قافله سالار دئ او قادر او ځواکمن رب ئې مل او مرستندوی. که تاسو د الله تعالی په فضل او مرسته د دې توفیق حاصل کړئ چي د دې لایحې له لارښوونو او غوښتنو سره سم عمل وکړئ او رعایت ئې د خپل ژوند لارښود، موخه او غایه وګرځوئ؛ نو مطمئن اوسئ چي د دنیا عزت، د آخرت سر لوړي او د الله تعالی رضاء به حاصله کړئ. قرآن په دې اړه فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ*

اې هغو چي ایمان ئې راوړی! آیا هغه تجارت دروښیم چي له دردناك عذاب مو ژغوري؟

تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ*

پر الله او د ده پر پيغمبر ايمان ولرئ او په خپل مال او نفس سره د الله په لار كي جهاد وكړئ، همدا درته غوره دئ كه وپوهېږئ.

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ *

گناهونه به مو درته وبخښي او داسي جنتونو ته به مو ننباسي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، او په تلپاته جنتونو كي صفا او پاكيزه استوگنځي، همدا ستره بريا ده.

وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ*

او هغه بل څه چي تاسو ئې خوښوئ: د الله مرسته او نږدې فتح، مؤمنانو ته زېرى وركړه.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ فَآمَنَت طَّائِفَةٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَت طَّائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ*

اې هغو چي ايمان ئې راوړى! د الله انصار شئ، همغسي لكه چي د مريمي زوى عيسى حواريونو ته وويل: څوك مي د الله لوري ته مله دي؟ حواريونو وويل: موږ د الله انصار يو، نو د بني اسرائيلو يوې ډلي ايمان

راوړ او بلي ډلي کفر وکړ، نو هغه مو د خپلو دښمنانو په خلاف تأييد کړل چي ايمان ئې راوړی وو، نو دوی غالب شول.

وَآخِرُ دَعْوَانا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

# فهرست

| عنوان | صفحه |
|---|---|
| سريزه | ۱ |
| د غړي مسئوليتونه | ۸ |
| لومړی فصل | ۸ |
| د عقېدې په برخه کي | ۸ |
| د دې عقيدې لومړۍ برخه | ۹ |
| د دې عقيدې دوهمه برخه | ۱۲ |
| د دې عقيدې درېيمه برخه | ۱۳ |
| د دې عقيدې څلورمه برخه | ۱٦ |
| د دې عقيدې پنځمه برخه: | ۱۹ |
| د دې عقيدې شپږمه برخه | ۲۱ |
| دوهم فصل | ۲٤ |
| د عمل په برخه کي | ۲٤ |
| الف - د وګړيز ژوند په برخه کې: | ۲٥ |
| ب - د اجتماعي ژوند په برخه کې: | ۳۲ |
| درېيم - حزبي مسئوليتونه: | ٤٥ |

الف - پېژندنه: ٥٢

ب- جوړښت: ٥٣

ج - تنفیذ: ٥٤

څلورم - ټولنیز مسئولیتونه: ٥٦

د شورئ د غړو مسئولیتونه ٦٣

د حزب د امیر او ماتحتو آمرانو مسئولیتونه ٦٩

پای ٧٦